# د تواريخ اول کِتاب

## پېژندګلو

اول تواريخ په کِتاب کښې دوه ساده خبرې دا دی چې د خُدائ پاک فرمانبرداری ځان سره برکت راوړی او د هغهٔ نافرمانی د تباهئ باعث جوړيږی. دا کِتاب د يهوداه د بادشاهئ د بنيادی تاريخ په حقله خبرې کوی يعنې هم هغه بادشاهی چې د اِسرائيل نه جدا شوې وه. اول تواريخ د يو څو نسب‌نامو سره شروع کيږی او په خاص توګه په کښې د حضرت داؤد عليه السلام او د حضرت سليمان عليه السلام ذکر کيږی. په دې کِتاب کښې د حضرت داؤد عليه السلام د بادشاهئ قيصه بيانوی او هم د دې خبرې وضاحت کوی او پرې رڼا اچوی چې د حضرت داؤد عليه السلام په عبادت کښې کومه ژوره دلچسپی وه. او د مالِک خُدائ د کور د جوړولو په حقله چې د حضرت داؤد عليه السلام کومې منصوبې وې هم د هغې په حقله تفصيلی خبرې کوی، کوم چې بيا وروستو د هغهٔ زوئ حضرت سليمان عليه السلام جوړه کړه. اول تواريخ په دې وجه وليکلے شو چې په کښې دا خبره يقينی کړی چې جلاوطن خلق بيا راواپس شول او د خُدائ پاک وفاداری يې خپلو خلقو ته ښکاره کړه. د حفظ کولو دپاره ۱۳:۲۲ آيت "کهٔ تهٔ هغه ټول قانون ومنې کوم چې مالِک خُدائ موسىٰ له د بنی اِسرائيلو دپاره ورکړے وو، نو تهٔ به کامياب يې. تکړه شه او حوصله مضبوطه کړه او چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هیڅ نه هم ونهٔ یربړي.“

## د حضرت آدم نه تر حضرت اِبراهیم پورې اولاد

١ ۱ آدم د شیث پلار وو، شیث د انوش پلار وو، انوش د
قینان پلار وو، ۲ قینان د محلل‌ایل پلار وو، محلل‌ایل د یارد
پلار وو. ۳ یارد د حنوک پلار وو او حنوک د مِتهوشله پلار
وو، مِتهوشله د لمک پلار وو، ۴ او لمک د نوح پلار وو. د
نوح درې زامن وُو، شیم، حام او یافت. ۵ دا د یافت اولاد
دے: جُمر، ماجوج، مادی، یاوان، توبل، مسک او تیراس.
۶ د جُمر اولاد: اشکناز، ریفت او تُجرمه. ۷ د یاوان
اولاد: اِلیسه، ترسیس، قبرص او رهودس. ۸ دا د حام
اولاد دے: کوش، مِصر، لیبیا او کنعان. ۹ د کوش اولاد د
سِیبا، حویله، سبته، راماه او د سبتیکه خلق وُو. د راماه اولاد
د شیبا او د ددان خلق وُو. ۱۰ کوش د نمرود پلار وو،
نمرود د دُنیا وړومبے طاقتور جنګیالے وو. ۱۱ د مِصر
اولاد د لودی، عنامی، لهابی، نفتوحی، ۱۲ فتروسی،
کسلوحی او د کریت خلق وُو، چې د هغوئ اولاد فلستیان
دی. ۱۳ د کنعان مشرے زوئ صیدا وو. کنعان د دې
قومونو هم پلار وو: حت، ۱۴ یبوسی، اموری، جرجاسی،
۱۵ حِوی، عرقی، سینی، ۱۶ اروادی، صماری او حماتی.
۱۷ دا د شیم اولاد دے: عیلام، اسور، ارفکسد، لود او آرام.
د آرام اولاد عُوض، حُول، جتر او مسک وُو. ۱۸ ارفکسد د
سِلح پلار وو او سِلح د عِبر پلار وو. ۱۹ د عِبر دوه زامن
وُو، د یو نوم فلج چې مطلب یې تقسیم وو، ځکه چې د هغهٔ په
وخت کښې د دُنیا خلق تقسیم شول. او د بل نوم یُقطان وو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۰ د یُقطان اولاد د الموداد، سلف، حصارماوت، اِراخ، ۲۱
هدورام، اُوزال، دِقله، ۲۲ عوبال، ابی‌مائیل، شیبا، ۲۳
اوفیر، حویله او یوباب. دا ټول د یُقطان اولاد وو. ۲۴ د شیم
نه تر ابرام پورې نسب‌نامه داسې ده: شیم، ارفکسد، سِلح،
۲۵ عِبر، فلج، رعو، ۲۶ سروګ، نحور، تارح، ۲۷ او ابرام
چې د اِبراهیم په نوم مشهور وو.

## د حضرت اِسمٰعیل اولاد

۲۸ د اِبراهیم دوه زامن وُو، اِسحاق او اِسمٰعیل. ۲۹ د
اِسمٰعیل زامن د دولسو قبیلو مشران شول: نبایوت چې مشر
وو، قیدار، ادبئیل، مِبسام، ۳۰ مِشماع، دومه، مسا، حدد،
تیما، ۳۱ یطور، نفیس او قِدمه. ۳۲ د اِبراهیم یوه وینځه وه
چې نوم یې قطوره وو، چې د هغې نه یې شپږ زامن پیدا شول:
زمران، یُقسان، مِدان، میدیان، اسباق او سوخ. د یُقسان دوه
زامن وُو: شیبا او ددان. ۳۳ د میدیان پینځهٔ زامن وُو: عیفه،
عِفر، حنوک، ابیداع او اِلدعا. دا ټول د قطوره اولاد وو.

## د عِیسو اولاد

۳۴ د اِبراهیم د زوئ اِسحاق زامن عِیسو او یعقوب وُو. ۳۵
د عِیسو زامن الیفز، رعوایل، یعوس، یعلام او قورح وُو. ۳۶
د الیفز اولاد دا وو: تیمان، اومر، صفو، جعتام، قنز او
عمالیق. د عمالیق مور تمنع وه. ۳۷ د رعوایل اولاد نحت،
زارح، سمه او مِزه وو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د ادوم اولنی اوسېدونکی

۳۸-۴۲ د ادوم اولنی اوسېدونکی د سعیر د دې زامنو اولاد
وو: لوطان د حوری او هومام قبیلو پلار نیکۀ وو. د لوطان
یوه خور وه چې نوم يې تمنع وو. سوبل د علوان، مانحت،
عیبال، سفو او اونام ډلو پلار نیکۀ وو. د صبعون دوه زامن
آیه او عنه وُو. عنه د دیسون پلار وو او دیسون د حمران،
اشبان، یتران او کِران ډلو پلار نیکۀ وو. ایصر د بِلهان،
زعوان او یعقان ډلو پلار نیکۀ وو. دیسان د عُوض او اران
ډلو پلار نیکۀ وو.

## د ادوم بادشاهان

۴۳-۵۰ دې بادشاهانو په یو بل پسې د ادوم په مُلک
حکومت وکړو، په هغه وخت کښې چې د هغې نه مخکښې د
بنی اِسرائیلو په مُلک کښې بادشاهان نۀ وُو: د دِنهابا د ښار نه
بالع چې د بعور زوئ وو، د بُصره نه د زارح زوئ یویاب، د
تیمان د علاقې حشیم، د عویت د بدد زوئ حدد، چې هغۀ د
موآب په مُلک کښې میدیانیانو له په یو جنګ کښې شکست
ورکړو. د مسرقه د ښار نه شمله، د سیند د غاړې ښار
رحوبوت نه ساؤل، د عکبور زوئ بعل حنان، د پاؤ د ښار نه
حدد، د هغۀ ښځه مهیطباېل وه چې د میضاهاب نمسۍ او د
مطرِد لور وه. ۵۱ د ادوم خلق په دې ډلو کښې تقسیم وُو:
تمنع، علوه، یتیت، ۵۲ اُهلیبامه، ایله، فینون، ۵۳ قنز،
تیمان، مِبصار، ۵۴ مجدِاېل او عِرام.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د یهوداه اولاد

۲ ﴿۱﴾ د یعقوب دولس زامن وُو: روبین، شمعون، لیوی،
یهوداه، یساکار، زبولون، ﴿۲﴾ دان، یوسف، بنیامین، نفتالی،
جاد او آشر. ﴿۳﴾ د یهوداه ټول پینځهٔ زامن وُو. د هغهٔ د
کنعانۍ ښځې بتسوع نه درې زامن وُو: عیر، اونان او سیله.
د هغهٔ مشر زوئ عیر دومره خراب وو چې مالِک خُدائ هغه
ووژلو. ﴿۴﴾ د یهوداه د خپلې اِنږور تامار نه دوه زامن فارص
او زارح وُو. نو د یهوداه ټول پینځهٔ زامن وُو. ﴿۵﴾ د فارص
دوه زامن حصرون او حمول وُو. ﴿۶﴾ د هغهٔ د ورور زارح
پینځهٔ زامن وُو: زِمری، ایتان، هیمان، کلکُول او دردع. ﴿۷﴾
د زارح د اولاد نه یو کس د کرمی زوئ عکن په بنی اِسرائیلو
باندې څکه افت راوستلو چې کوم مالِ غنیمت خُدائ پاک ته
وقف شوے وو نو په هغې کښې یې خیانت وکړو. ﴿۸﴾ د
ایتان یو زوئ عزریاه وو.

## د حضرت داؤد نسب‌نامه

﴿۹﴾ د حصرون درې زامن یرحمئیل، رام او کلوبی وُو. ﴿۱۰﴾
د رام نه تر یَسی پورې نسب‌نامه داسې ده: رام، عمی‌نداب،
نحشون چې دا د یهوداه د قبیلې یو مشر سړے وو، ﴿۱۱﴾
سلمون، بوعز، ﴿۱۲﴾ عوبید او یَسی. ﴿۱۳﴾ د یَسی اووهٔ زامن
وُو، د عُمر په ترتیب باندې هغوئ داسې وُو: اِلیاب، ابینداب،
سِمعه، ﴿۱۴﴾ نتنی‌ایل، ردی، ﴿۱۵﴾ عوضم او داؤد. ﴿۱۶﴾ د هغهٔ
دوه لوڼه ضرویاه او ابی‌جیل هم وې. د یَسی د لور ضرویاه
درې زامن وُو: ابیشی، یوآب او عساهیل. ﴿۱۷﴾ د هغهٔ بلې لور

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ابیجیل د یتر سره وادهٔ وکړو، چې د اِسمٰعیل د اولاد نه وو او د هغوئ یو زوئ پېدا شو چې نوم يې عماسا وو.

## د حصرون نور اولاد

۱۸ د حصرون زوئ کالب عزوبه وادهٔ کړه او يوه لور يې
ترې نه وشوله چې نوم يې یریعوت وو. د هغې درې زامن ؤو:
يشر، سوباب او اردون. ۱۹ چې کله عزوبه مړه شوه نو
کالب اِفراته وادهٔ کړه او د هغوئ يو زوئ وشو چې نوم يې
حُور وو. ۲۰ د حُور زوئ اوری وو او د هغهٔ نمسے
بضلی‌ایل وو. ۲۱ کله چې حصرون د شپېتو کالو وو، نو
هغهٔ د مکير د لور سره وادهٔ وکړو، چې د جِلعاد خور وه. د
هغوئ يو زوئ وشو چې نوم يې سجوب وو، ۲۲ او د
سجوب يو زوئ وو چې نوم يې يائير وو. يائير د جِلعاد په
علاقه کښې په درويشتو ښارونو باندې حکومت کولو. ۲۳
خو د جسور او شام حکومتونو هلته شپېتهٔ ښارونه فتح کړل،
چې په دې کښې د يائير او قنات کلی او د دې نزدې ښارونه
شامل ؤو. هلته چې څومره خلق اوسېدل هغوئ د مکير اولاد
وو. مکير د جِلعاد پلار وو. ۲۴ د حصرون د مرګ نه پس، د
هغهٔ زوئ کالب اِفرات وادهٔ کړه، چې د هغهٔ د پلار کونډه وه.
د هغوئ يو زوئ وشو چې نوم يې اشور وو، چې دې د تقوع
پلار وو.

## د حصرون د زوئ يرحمئيل اولاد

۲۵ د حصرون د مشر زوئ يرحمئيل پينځهٔ زامن ؤو: د ټولو
نه مشر رام وو او وریسې بونه، اورن، عوضم او اخياه ؤو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۶-۲۷ د رام درې زامن وُو: معض، يمين او عيقر. د
يرحمئيل يوه بله ښځه وه چې نوم يې عطاره وو او د هغوئ
يو زوئ اونام وو. ۲۸ د اونام دوه زامن سمی او يدع وُو، د
سمی هم دوه زامن ندب او ابيسُور وُو. ۲۹ ابيسُور يوه ښځه
وکړه چې نوم يې ابیخېل وو، د هغوئ دوه زامن اخبان او
مولِد وُو. ۳۰ د ابيسُور د ورور ندب دوه زامن سلد او افائم
وُو، خو د سلد اولاد نۀ وو او مړ شو. ۳۱ افائم د يسعی پلار
وو، يسعی د سيسان پلار وو او سيسان د اخلی پلار وو. ۳۲
د سمی د ورور يدع دوه زامن يتر او يونتن وُو، خو يتر بغير د
زامنو نه مړ شو. ۳۳ د يونتن دوه زامن پلت او زازا وُو. دا
ټول د يرحمئيل اولاد وو. ۳۴ د سيسان زامن نۀ وُو صِرف
لوڼه يې وې. د هغۀ يو مِصرے نوکر وو چې نوم يې يرخع
وو، ۳۵ چې هغۀ له يې خپله يوه لور ورکړه چې وادۀ يې
کړی. د هغوئ يو زوئ وو چې نوم يې عتی وو. ۳۶ د عتی نه
تر اليسمع پورې نسب‌نامه داسې ده: عتی، ناتن، زاباد، ۳۷
افلال، عوبيد، ۳۸ ياهُو، عزرياه، ۳۹ خلص، اِلعاسه، ۴۰
سِسمی، سلوم، ۴۱ يقمياه او اليسمع.

## د کالب نور اولاد

۴۲ د يرحمئيل د ورور د کالب د مشر زوئ نوم ميسا وو.
ميسا د زيف پلار وو، چې دې د مريسه پلار وو چې هغه د
حبرون پلار وو. ۴۳ د حبرون څلور زامن وُو: قورح، تفوح،
رِقم او سمع. ۴۴ سمی د رحم پلار او د يُرقعام نيکۀ وو. د
سمع ورور رِقم د سمی پلار وو، ۴۵ چې سمی د معون پلار
وو، او معون د بيت‌صور پلار وو. ۴۶ د کالب يوه وينځه وه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې نوم يې عيفه وو او د هغې نه يې درې نور زامن وُو:
حاران، موضا او جازز. د حاران هم يو زوئ وو چې نوم يې
جازز وو. ۴۷ يهدى نومې يو سړے وو چې د هغهٔ شپږ زامن
وُو: رجم، يوتام، جسان، فِلِط، عيفه او شعف. ۴۸ د کالب
يوه وينځه معکه هم وه، چې د هغې نه يې دوه زامن وُو، شبر
او تِرحنه. ۴۹ وروستو يې دوه نور زامن پيدا شول: شعف،
چا چې د مدمنه ښار جوړ کړے وو، او سِوا، چا چې د
مکبينه او جبعه ښارونه جوړ کړى وُو. د دې نه علاوه د
کالب يوه لور وه چې نوم يې عکسه وو. ۵۰ دا هم د کالب
اولاد وو. حُور د کالب او د هغهٔ د ښځې اِفرات مشر زوئ
وو. د حُور زوئ سوبل د قِريَت‌يعريم ښار جوړ کړے وو.
۵۱ د هغهٔ دويم زوئ ساما چا چې د بيت‌لحم ښار جوړ
کړے وو او د هغهٔ دريم زوئ خارف چا چې د بيت‌جادر ښار
جوړ کړے وو. ۵۲ سوبل، چا چې د قِريَت‌يعريم ښار جوړ
کړے وو، هغه د هرائى د خلقو او د هغه نيمو خلقو پلار نيکهٔ
وو چې څوک د منوخوت په ښار کښې اوسېدل، ۵۳ او
کومې قبيلې چې په قِريَت‌يعريم کښې وې دا دى: اِتريان،
فُوتيان، سماتيان او مِسراعيان. د صُرعه او استاول ښارونو
خلق د دې قبيلو کسان وُو. ۵۴ سلما د بيت‌لحم، د نطوفاتى،
عطرات‌بيت‌يوآب او صُرعى د خلقو پلار نيکهٔ وو، چې
صُرعى په مانحت کښې د دوو ډلو نه يوه وه، ۵۵ او کومې
قبيلې چې په ليکلو کښې ماهِران وُو هغوئ په يعبيض کښې
اوسېدل: هغوئ تِرعايان، سِمعيان او سوکاتيان وُو. هغوئ د
حمات د قينيانو اولاد وو. حمات د ريکاب د خاندان پلار
نيکهٔ وو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حضرت داؤد بادشاه اولاد

(۱)-(۳) چې کله داؤد په حبرون کښې وو نو د عُمر په ترتيب
يې دا زامن پېدا شوی ؤو: امنون، چې د هغهٔ مور د يزرعيل
اخينوعم وه. دانيال، چې د هغهٔ مور د کرمل ابیجيل وه.
ابیسلوم، چې د هغهٔ مور معکه وه او معکه د جسور د تلمی
بادشاه لور وه. ادونياه، چې د هغهٔ مور حجيت وه. سفطياه،
چې د هغهٔ مور ابيطال وه. اِترعام، چې د هغهٔ مور عِجلاه وه.
(۴) دا شپږ واړه په حبرون کښې پېدا شوی ؤو، چرته چې
هغهٔ اووهٔ کاله او شپږ مياشتې بادشاهی وکړه. د هغې نه پس
په يروشلم کښې هغهٔ درې ديرش کاله حکومت وکړو. (۵) په
يروشلم کښې چې د داؤد کوم زامن پيدا شوی ؤو په هغوئ
کښې سموع، سوياب، ناتن او سليمان شامل دی. د هغوئ
مور بتسبع وه چې د عمیاېل لور وه. (۶) د هغهٔ نور نهٔ
زامن هم ؤو: اِبحار، اليسوع، اليفلط، (۷) نجه، نفج، يفيع،
(۸) اليسمع، اليدع او اليفلط. (۹) د دې ټولو زامنو نه علاوه
د داؤد د وينځو زامن هم ؤو. د هغهٔ يوه لور تامار هم وه.

## د حضرت سليمان بادشاه اولاد

(۱۰) دا د سليمان اولاد دے: سليمان، رحُبعام، ابياه، آسا،
يهوسفط، (۱۱) يهورام، اخزياه، يوآس، (۱۲) امصياه، عُزياه،
يوتام، (۱۳) احاز، حزقياه، منسی، (۱۴) امون او يوسياه. (۱۵)
د يوسياه څلور زامن د عُمر په ترتيب دا ؤو: يوحانان،
يهويقيم، صدقياه او يهوآخز. (۱۶) د يهويقيم دوه زامن ؤو:
يهوياکين او صدقياه.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د یهویاکین بادشاه اولاد

۱۷ دا د یهویاکین بادشاه اولاد دے، یهویاکین بابلیانو قېدی
بوتلے وو. د یهویاکین اووۀ زامن وُو: شلتی‌اېل، ۱۸ مُلکِرام،
فدایاه، شیناضر، یقمیاه، هوسمع او ندبیاه. ۱۹ د فدایاه دوه
زامن وُو، زرُبابل او سِمعی. زرُبابل د دوو زامنو پلار وو،
مسلام او حننیاه. او د هغۀ یوه لور سلومیت وه. ۲۰ د هغۀ
پینځۀ نور زامن وُو: حسویه، اُهل، برکیاه، حسدیاه او
یوسب‌حسد. ۲۱ د حننیاه دوه زامن فلطیاه او یشعیاه وُو. د
یشعیاه زوئ رفایاه وو، د رفایاه زوئ ارنان وو، د ارنان زوئ
عبدیاه وو او د عبدیاه زوئ سکانیاه وو. ۲۲ د سکانیاه یو
زوئ سمعیاه او پینځۀ نمسی وُو: حطوش، اِجال، بریح،
نعریاه او سافط. ۲۳ د نعریاه درې زامن الیوعینی، حزقیاه
او عزریقام وُو. ۲۴ د الیوعینی اووۀ زامن وُو: هُوداویاه،
اِلیاسب، فلایاه، عقوب، یوحانان، دلایاه او عنانی.

## د یهوداه نور اولاد

۴ ۱ دا د یهوداه څۀ اولاد دے: فارص، حصرون، کرمی،
حُور او سوبل. ۲ سوبل د ریایاه پلار وو، چې دا د یحت
پلار وو، چې هغه د اخومی او د لاهد پلار وو، کوم چې د هغه
خلقو پلار نیکۀ وو چې په صُرعه کښې اوسېدل. ۳-۴
حُور د کالب د ښځې اِفرات مشر زوئ وو او د هغۀ اولاد د
بیت‌لحم ښار جوړ کړے وو. د حُور درې زامن ایتام، فنواېل
او ایصر وُو. د ایتام درې زامن وُو: یزرعیل، اِسمع او ادباس
او یوه یې لور حضل الفونی وه. فنواېل د جدور ښار جوړ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړے وو او ایصر د حوسه ښار جوړ کړے وو. ۵ اشور
چا چې د تقوع ښار جوړ کړے وو د هغهٔ دوه ښځې حیلاه او
نعراه وې. ۶ د هغهٔ د خپلې ښځې نعراه څلور زامن ؤو:
اخوسام، حِفر، تمنی او هخستری. ۷ د اشور د خپلې ښځې
حیلاه نه درې زامن ؤو: ضرت، اِضهار او اِتنان. ۸ قوض
د عنوب، ضوبیبه او د حروم د زوئ اخرخېل د قبیلو پلار
نیکهٔ وو. ۹ یو سړے وو چې نوم یې یعبیض وو، هغه په
خپلو ورونړو کښې ډېر عزتمند سړے وو. په هغهٔ باندې خپلې
مور یعبیض نوم ایښے وو، ځکه چې د هغهٔ د پیدا کېدو درد
ډېر سخت وو. ۱۰ خو یعبیض د بنی اِسرائیلو خُدائ پاک ته
سوال وکړو، "خُدایه پاکه، تهٔ به ما له برکت راکوې او زما
مُلک به لویَوې. زما مل شه او د هر هغه خراب عمل نه مې
وساته چې ما له تکلیف راکوی." او چې هغهٔ د څهٔ سوال
کړے وو نو خُدائ پاک هغه هر څهٔ ورکړل.

## د نورو کورَنو نسب‌نامې

۱۱ د سوخه د ورور کالب یو زوئ محیر وو. محیر د استون
پلار وو، ۱۲ چې د هغهٔ درې زامن ؤو: بیت‌رفا، فاسح او
تخِنه. تخِنه د ناحس ښار جوړ کړے وو. د دې سړو اولاد په
ریکه کښې اوسېدو. ۱۳ د قنز دوه زامن عتنی‌اېل او شرایاه
ؤو. د عتنی‌اېل هم دوه زامن حتت او معوناتی ؤو. ۱۴
معوناتی د عفره پلار وو. شرایاه د یوآب پلار وو. او یوآب
هغه وړومبے کس وو چې د ماهِرو خلقو وادی یې آباده کړه،
ځکه چې هلته ټول خلق ماهِر کاریگران ؤو. ۱۵ د یفُنه زوئ
کالب درې زامن ؤو: عیرو، ایله او نعم. او ایله د قنز پلار وو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۶ د یهلل‌ایل څلور زامن وُو: زیف، زیفه، تیریاه او
اسرىایل. ۱۷-۱۸ د عزره څلور زامن وُو: یتر، مرِد، عِفر او
یلون. مرِد بِتیاه وادۀ کړه، چې د فِرعون لور وه، د هغوئ یوه
لور مریم وه او دوه یې زامن سمی او اِسباح وُو. اِسباح د
استموع ښار جوړ کړے وو. مرِد د یهوداه قبیلې د یوې ښځې
سره هم وادۀ وکړو او د هغوئ درې زامن وُو: یرد، چې هغۀ د
جدور ښار جوړ کړے وو، حِبر چې هغۀ د شوکو ښار جوړ
کړے وو، او یقوتئیل چې هغۀ د زنوح ښار جوړ کړے وو.
۱۹ هودیاه د نحم خور وادۀ کړه. د هغوئ اولاد د جرمی ډله
وه، چې هغه د قعیله په ښار کښې اوسېده او د معکې ډله چې
د استموع په ښار کښې اوسېده. ۲۰ د سیمون څلور زامن
وُو: امنون، رِنه، بِن‌حنان او تیلون. د یسعی دوه زامن وُو:
زوحت او بِن‌زوحت.

## د یهوداه د زوئ سِلح اولاد

۲۱ سیله د یهوداه د زامنو نه یو زوئ وو. د هغۀ په اولاد
کښې عیر شامل وو، چا چې د لکه ښار جوړ کړے وو، لعده
چا چې د مریسه ښار جوړ کړے وو، د لټې کپړې جوړونکی
قبیله چې د بیت‌اشبیع په ښار کښې اوسېده، ۲۲ یوقیم او
هغه خلق چې د کوزیبا په ښار کښې اوسېدل، او یوآس او
شراف، چا چې موآبیانې ښځې وادۀ کړې او په بیت‌لحم کښې
اوسېدل. دا د ډېر پخوانی وخت حِساب کِتاب دے. ۲۳
هغوئ د بادشاه د خِدمت کُلالان وُو او د نتائیم او د جدیره په
ښارونو کښې اوسېدل.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د شمعون اولاد

۲۴ د شمعون پينځۀ زامن ؤو: نمواېل، يمين، يريب، زارح او
ساؤل. ۲۵ د ساؤل زوئ سلوم وو، د سلوم زوئ مِبسام وو
او د مِبسام زوئ مِشماع وو. ۲۶ د مِشماع د اولاد نسب‌نامه
داسې ده: حمواېل، زکور او سِمعی. ۲۷ د سِمعی شپاړس
زامن او شپږ لوڼه وې، خو د هغۀ د خپلوانو اولاد کم وو او د
شمعون قبيله د يهوداه د قبيلې په شان لويه نۀ شوه. ۲۸ د
داؤد بادشاه تر وخته پورې د شمعون اولاد په بيرسبع،
مولاده، حصارسعول، ۲۹ بِلهاه، عضم، تولاد، ۳۰ بتواېل،
حُرمه، صِقلاج، ۳۱ بيت‌مرکبوت، حصارسوسم، بيت‌برائی
او شعريم کښې اوسېدل. ۳۲ هغوئ په پينځو نورو ځايونو
کښې هم اوسېدل: ايتام، عين، رِمون، توکن، عسن، ۳۳ او په
ګېرچاپېره کلو کښې، د بعلات ښار پورې. دا هغه حِساب
کِتاب دے چې هغوئ د خپلو کورَنو او د هغه ځايونو په حقله
ساتلو چې چرته هغوئ اوسېدل. ۳۴-۳۸ دا سړی د خپلو
قبيلو مشران ؤو: مسوباب، يمليک، يوشه چې د امصياه
زوئ وو، يوايل، ياهُو چې د يوسبياه زوئ وو، يوسبياه د
شراياه زوئ وو، شراياه د عسيئيل زوئ وو، اليوعينی،
يعقوبه، يشوخايه، عساياه، عدی‌ايل، يسمئيل، بناياه، زيزا،
زيزا د شفعی زوئ وو، شفعی د الون زوئ وو، الون د يدعياه
زوئ وو، يدعياه د سِمری زوئ وو او سِمری د سمعياه زوئ
وو. ځکه چې د هغوئ خاندان غټېدلو، ۳۹ هغوئ تقريباً تر
جدور پورې نمرپرېواتۀ طرف ته خوارۀ شول او د هغه مېدان
نمرخاتۀ طرف ته يې خپلې ګډې څرولې چرته چې هغه ښار
دے. ۴۰ هغوئ د څرن ښۀ آباد مُلکونه ومونده چې په کولاو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مُلک کښې خوارهٔ وارهٔ وُو چې خاموش او د امن نه ډک وو.
د هغوئ نه مخکښې چې کوم خلق هلته اوسېدل هغوئ
حامیان وُو. ۴۱ د یهوداه بادشاه حزقیاه په وخت کښې د
هغه ډلو مشران جرار ته لاړل او هلته يې حامیان او معونیان
او د هغوئ خېمې تباه کړې او د هغوئ ټول خلق يې ووژل او
تر نن ورځې پورې يې د نوم او نشان پته نهٔ لګی. د هغوئ په
ځایونو کښې په خپله آباد شول، ځکه چې هغوئ ته د رَمو
دپاره د څرن د زمکې ضرورت وو. ۴۲ د شمعون قبیلې نور
پینځهٔ سوه کسان نمرخاتهٔ طرف ادوم ته لاړل. د هغوئ
مشری د یسعی زامنو کوله: فلطیاه، نعریاه، رفایاه او
عُزیٔایل. ۴۳ هلته هغوئ هغه پاتې شوی عمالیقیان ووژل
کوم چې تښتېدلی وُو او هغوئ تر ننه پورې هلته اوسېدل.

## د روبین اولاد

**۵** ۱ دا د روبین اولاد دے چې هغه د یعقوب مشر زوئ
وو. هغهٔ د خپل پلار د بلې ښځې سره د زنا کولو په وجه د
خپل پلار بې‌عزتی وکړه نو چې د مشری زوئ کوم حقُونه هغهٔ
لرل، هغه ختم شول او هغه حقُونه یوسف ته مِلاو شول. ۲
خو د یهوداه قبیله تکړه شوه او ټولو قبیلو له يې یو بادشاه
ورکړو، خو پیدائشی حق د یوسف سره وو. ۳ د یعقوب د
مشر زوئ روبین څلور زامن وُو: حنوک، فلو، حصرون او
کرمی. ۴-۶ دا د یوایل اولاد دے: سمعیاه، جوج، سِمعی،
میکاه، ریایاه، بعل او بئیره. اسوری بادشاه تغلت فلاسر د
روبین قبیلې مشر بئیره ونیولو او د قبیلې سره يې جلاوطن

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړو. ۷ د روبین په قبیله کښې د دې د قبیلو د مشرانو
نسب‌نامه: یعی‌ایل، زکریاه، ۸ او بالع، د عزز زوئ او د
سمع نمسے، چې د یوایل د قبیلې وو. دا قبیله په عروعیر
کښې او د هغه ځائ نه د نبو پورې او د بعل معون په علاقه
کښې اوسېده. ۹ د جِلعاد په مُلک کښې د هغوئ ډېر
څاروی وُو او هغه مُلک یې ونیولو چې نمرخاتۀ طرف ته د
صحرا د لمنې او د فرات سیند پورې خور دے. ۱۰ د ساؤل
بادشاه په وخت کښې د روبین قبیلې په هاجریانو حمله
وکړه، هغوئ یې په جنګ کښې ووژل او د جِلعاد نمرخاتۀ ته
په ټوله برخه کښې د هغوئ په خېمو کښې اوسېدل.

## د جاد اولاد

۱۱ د جاد قبیله د بسن په مُلک کښې د روبین شمال ته د
سلکه نمرخاتۀ طرف پورې اوسېدله. ۱۲ یوایل په بسن کښې
مشر وو، سافم ورپسې دویم کس وو او دریم مشر یعنې او د
هغۀ نه پس سافط وو. ۱۳ د دې اوو ډلو د قبیلې نور کسان
دا دی: میکائیل، مسلام، شیبا، یوری، یعکان، زیع او عِبر.
۱۴ هغوئ د حُوری زوئ ابی‌خېل اولاد دے، چې د هغوئ
پلار نیکۀ دا دی: ابی‌خېل، حُوری، یارواح، جِلعاد، میکائیل،
یسیسی، یحدو او بُوز. ۱۵ اخی چې د عبدی‌ایل زوئ او د
جونی نمسے وو هغه د دې ډلو مشر وو. ۱۶ هغوئ د بسن
او جِلعاد په علاقه کښې، هلته په ښارونو او د شارون د څرن
په ټولو مُلکونو کښې اوسېدل. ۱۷ دا نسب‌نامه د یهوداه
بادشاه یوتام او د اِسرائیل بادشاه یربعام په وخت کښې
لیکلے شوې وه.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د نمرخاتۀ طرف ته د قبيلو لښکر

۱۸ د روبين، جاد او د نمرخاتۀ طرف منسی په قبيلو کښې
څلور څلويښت زره اووۀ سوه او شپېتۀ فوجيان وُو، چې د
ډالونو، تُورو او غشو په وړلو او استعمالولو باندې ښۀ
پوهېدل. ۱۹ هغوئ د جنګ دپاره د يطور، نفيس او نودب
هاجرى قبيلو خِلاف لاړل. ۲۰ د جنګ په وخت کښې هغوئ
خُدائ پاک ته سوال وکړو، هغۀ د هغوئ فرياد واورېدو ځکه
چې په هغۀ باندې يې ايمان لرلو. نو داسې هاجريانو او د
هغوئ ټولو ملګرو شکست وخوړو. ۲۱ د بنى اِسرائيلو
نمرخاتۀ طرف ته قبيلو د دشمن نه پنځوس زره اوښان، دوه
لاکه او پنځوس زره ګډې او دوه زره خرۀ ونيول او سل زره
کسان يې جنګى قېديان کړل. ۲۲ هغوئ ډېر دشمنان ووژل،
ځکه چې خُدائ پاک په دې جنګ کښې د هغوئ مل وو. او
هغوئ تر جلاوطنۍ پورې د هاجريانو په علاقه کښې اوسېدل.

## نمرخاتۀ طرف د منسى نيمه قبيله

۲۳ د منسى نيمې قبيلې خلق د بسن په علاقه کښې د بعل
حرمون، سنير او حرمون غر پورې اوسېدل او د هغوئ آبادى
ډېره زياته شوه. ۲۴ دا کسان د خپلو ډلو مشران وُو: عِفر،
يسعى، اِلى‌ايل، عزرائيل، يرمياه، هُوداوياه او يحدِايل. هغوئ
ټول ښۀ تکړه فوجيان او د خپلو ډلو مشهور مشران وُو.

## د نمرخاتۀ طرف ته د قبيلو ويستلے کېدل

۲۵ خو خلقو د خپل پلار نيکۀ خُدائ پاک سره خيانت وکړو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د هغهٔ نورو قومونو د معبودانو د عبادت په وجه يې د هغهٔ
خِلاف بغاوت وکړو کوم قومونه چې خُدائ پاک په هغه
وخت تباه کړی وُو چې بنی اِسرائيليان مخ په وړاندې تلل.
۲۶ نو خُدائ پاک د اسور بادشاه پول ولېږلو چې د هغوئ په
مُلک حمله وکړی (چې هغه په تغلت فلاسر باندې هم مشهور
وو). هغهٔ د روبين، جاد او د منسی نيمه قبيله وويستله او دې
ته يې مجبور کړل چې تر نن پورې په خلح، خابور، هارا او د
جوزان سيند سره اوسيږی.

## د مشرانو اِمامانو نسب‌نامه

۶ ۱ د ليوی درې زامن وُو: جيرسون، قُهات او مراری.
۲ د قُهات څلور زامن وُو: عُمرام، اِضهار، حبرون او
عُزىاېل. ۳ د عُمرام دوه زامن هارون او موسیٰ وُو او يوه
يې لور مريم وه. د هارون څلور زامن وُو: ندب، ابيهُو،
اِلىعزر او اِتمر. ۴ د اِلىعزر اولاد نسل په نسل دا دے:
فينحاس، ابيسوع، ۵ بُقى، عُزی، ۶ زرخياه، مرايوت،
۷ امرياه، اخيطوب، ۸ صدوق، اخيمعض، ۹
عزرياه، يوحانان، ۱۰ عزرياه چا چې د مالِک خُدائ په هغه
کور کښې خِدمت کولو کوم چې سليمان بادشاه په يروشلم
کښې جوړ کړے وو، ۱۱ امرياه، اخيطوب، ۱۲ صدوق،
سلوم، ۱۳ خِلقياه، عزرياه، ۱۴ شراياه او يهوصدق. ۱۵
نبوکدنضر بادشاه يهوصدق سره د يهوداه او يروشلم هغه
خلقو وويستلو کوم چې مالِک خُدائ پردی مُلک ته جلاوطن
کړی وُو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د لیوی نور اولاد

۱۶ د لیوی درې زامن وُو: جیرسون، قُهات او مراری. ۱۷
په هغوئ کښې د هر یو هم زامن وُو. جیرسون د لِبنی او
سِمعی پلار وو، ۱۸ قُهات د عُمرام، اِضهار، حبرون او
عُزی‌ایل پلار وو، ۱۹ او مراری د محلی او موشی پلار وو. دا
د نسب‌نامې په مطابق د لیویانو قبیلې دی. ۲۰ دا نسل په
نسل د جیرسون اولاد دے: لِبنی، یحت، زِمه، ۲۱ یوآخ،
عدو، زارح او یتری. ۲۲ دا نسل په نسل د قُهات اولاد دے:
عمی‌نداب، قورح، اسیر، ۲۳ القنه، ابی‌آسف، اسیر، ۲۴
تحت، اوری‌ایل، عُزیاه او ساؤل. ۲۵ د القنه دوه زامن
عماسی او اخیموت وُو. ۲۶ دا نسل په نسل د اخیموت اولاد
دے: القنه، ضوفی، نحت، ۲۷ اِلیاب، یروحام او القنه. ۲۸
د سموئیل دوه زامن وُو: یوایل مشر وو او ابیاه کشر وو. ۲۹
دا نسل په نسل د مراری اولاد دے: محلی، لِبنی، سِمعی،
عُزه، ۳۰ سِمعا، حجیاه او عسایاه.

## د مالِک خُدائ د کور سندرغاړی

۳۱ دا هغه سړی وُو چې داؤد بادشاه د مالِک خُدائ په کور
کښې د سندرو خِدمت دپاره مقرر کړی وُو، دا د هغې نه پس
وُو چې د لوظ صندوق هلته یوړلے شو. ۳۲ هغوئ د مالِک
خُدائ د حضور خیمې په وړاندې د موسیقۍ سره عبادت
کولو، دا د سلیمان د مالِک خُدائ کور د جوړولو نه مخکښې
وخت وو. هغوئ دا کارونه د اصُولو په مطابق کول. ۳۳ چا
چې د خپلو زامنو سره خِدمت کولو د هغوئ نسب‌نامه داسې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ده: د قُهات پله: هيمان چې د اولنو موسيقارانو مشر وو، هغه
د يوايل زوئ وو. شا ته د هغهٔ نسب‌نامه داسې ده: حيمان،
يوايل، سموئيل، ۳۴ القنه، يروحام، اِلی‌ايل، توح، ۳۵
صُوف، القنه، محت، عماسی، ۳۶ القنه، يوايل، عزرياه،
صفنياه، ۳۷ تحت، اسير، ابی‌آسف، قورح، ۳۸ اِضهار،
قُهات، ليوی او يعقوب. ۳۹ آسف د دوېمو موسيقارانو مشر
وو. د ليوی نه پس د هغهٔ نسب‌نامه داسې ده: آسف، برکياه،
سِمعا، ۴۰ ميکائيل، بعسياه، مُلکياه، ۴۱ اِتنی، زارح،
عداياه، ۴۲ ايتان، زِمه، سِمعی، ۴۳ يحت، جيرسون او
ليوی. ۴۴ د مراری قبيلې ايتان د درېمې سندرې مشر وو.
شا ته ليوی ته د هغهٔ نسب‌نامه داسې ده: قيسی، عبدی،
ملوک، ۴۵ حسبياه، امصياه، خِلقياه، ۴۶ امصی، بانی،
سمر، ۴۷ محلی، موشی، مراری او ليوی. ۴۸ نورو ليويانو
ته د مالِک خُدائ په کور کښې باقی ټول خِدمت حواله شوے
وو.

## د هارون اولاد

۴۹ خو هارون او د هغهٔ اولاد د خوشبويۍ نذرانې پېش کولې
او هغه قربانۍ يې پېش کولې چې په قربان‌گاه باندې سوزولے
شوې. هغوئ په زيات مقدس ځائ کښې د ټول عبادت او د
بنی اِسرائيلو د کفارې ادا کولو ذمه وار وُو. هغوئ دا هر څهٔ
د هغه اصُولو په مطابق کول کوم چې د خُدائ پاک خِدمت
کوونکی موسیٰ ورته ښودلی وُو. ۵۰ دا د هارون اولاد دے:
اِلی‌عزر، فينحاس، ابيسوع، ۵۱ بُقی، عُزی، زرخياه، ۵۲
مرايوت، امرياه، اخيطوب، ۵۳ صدوق او اخيمعض.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د ليويانو د اوسېدو ځايونه

۵۴ دا هغه ښارونه دی چې د هارون اولاد ته حواله شوی وُو
چې هغه د قُهات قبيله ده. هغوئ ته به د هغې زمکې وړومبی
برخه مِلاويده کومه چې ليويانو ته حواله شوې وه. ۵۵ په
دې کښې د يهوداه په علاقه کښې حبرون او د دې نه
ګېرچاپېره د څرن زمکې شاملې وې، ۵۶ اګر چې د هغه
ښار پټی او کلی د يفُنه زوئ کالب په حواله وُو. ۵۷-۵۹ د
پناه دا ښارونه سره د څرن د زمکې د هارون اولاد ته حواله
شوی وُو: حبرون، لِبناه، يتير، استموع، حَولون، دبير، عسن
او بيت‌شمس. ۶۰ د بنيامين په علاقه کښې هغوئ ته دا
ښارونه سره د څرن د زمکې حواله شوی وُو: جبعه، علمت
او عنتوت. دا ټول ديارلس ښارونه وُو چې د هغوئ مکمل
خاندان په کښې اوسېدل. ۶۱ نمرپريواتۀ طرف ته د منسی په
علاقه کښې لس ښارونه د پچې په ذريعه د قُهات پاتې قبيلې ته
خاندان په خاندان حواله شوی وُو. ۶۲ د جيرسون قبيلې ته
کورَنو په مطابق ديارلس ښارونه د يساکار، آشر، نفتالی او
نمرخاتۀ طرف ته په بسن کښې د منسی په علاقو کښې حواله
شوی وُو. ۶۳ هم دغه شان، د روبين، جاد او زبولون په
علاقو کښې دولس ښارونه د مراری قبيلې ته خاندان په
خاندان حواله شوی وُو. ۶۴ نو داسې بنی اِسرائيلو ليويانو
ته د اوسېدو دپاره ښارونه حواله کړل، سره د څرن د زمکې
چې د دې ښارونو نه ګېرچاپېره وې. ۶۵ د يهوداه، شمعون
او بنيامين په علاقه کښې هغه ښارونه هم د پچې په ذريعه
حواله شوی وُو. د هغه ښارونو ذِکر وړاندې شوے دے. ۶۶
د قُهات قبيلې څۀ کورَنو ته د اِفرائيم په علاقه کښې ښارونه او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د څرن زمکې حواله شوې وې: ٦٧ شِکم چې د اِفرائيم په
غرونو کښې د پناه ښار دے او ورسره جزر، ٦٨ يُقمام،
بيت‌حورون، ٦٩ ايالون او جات رِمون. ٧٠ د قُهات پاتې
اولاد ته د منسى د نيمې قبيلې د علاقې نه د عانير او بلعام
ښارونه سره د ګېرچاپېره د څرن د زمکې حواله شوى وُو.
٧١ د جيرسون قبيلې کورَنو ته دا ښارونه، سره د ګېرچاپېره
د څرن د زمکو حواله شوى وُو: د نمرخاتۀ منسى په علاقه
کښې: په بسن کښې جولان، او عستارات. ٧٢ د يساکار په
علاقه کښې: قادِس، دبرت، ٧٣ رامات او عانيم چې د څرن
زمکې ورسره وې. ٧٤ د آشر په علاقه کښې: مسل، عبدون،
٧٥ حُقوق او رِحوب چې د څرن زمکې ورسره وې. ٧٦ د
نفتالى په علاقه کښې: په ګليل کښې قادِس، حمون او قِريَتائم
چې د څرن زمکې ورسره وې. ٧٧ د مرارى قبيلې باقى پاتې
کورَنو ته دا ښارونه سره د دې نه ګېرچاپېره د څرن د زمکو
حواله شوى وُو: د زبولون په علاقه کښې: رِمون او تبور. ٧٨
د اُردن سيند نه پورې د يريحو نمرخاتۀ طرف ته، د روبين په
علاقه کښې: په اوچته زمکه باندې بصر، يهض، ٧٩ قديمات
او مفعت چې د څرن زمکې ورسره وې. ٨٠ د جاد په علاقه
کښې: په جِلعاد کښې رامات، محنايم، ٨١ حسبون او يعزير
چې د څرن زمکې ورسره وې.

## د يساکار اولاد

7 ١ د يساکار څلور زامن وُو: تولع، فُوه، يسوب او
سِمرون. ٢ د تولع شپږ زامن وُو: عُزى، رفاياه، يرى‌ايل،
يحمى، ابسام او سموئيل. هغوئ د تولع د قبيلې اولنى مشران

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وُو. د داؤد بادشاه په زمانه کښې د دې ډلو د ټولو تکړه
فوجيانو شمېر دوويشت زره او شپږ سوه وو. ٣ د عُزی يو
زوئ اِزراخياه وو. اِزراخياه او د هغهٔ څلور زامن، ميکائيل،
عبدياه، يوايل او يسياه ټول د ډلو مشران وُو. ٤ د هغوئ
دومره ډېرې ښځې او بچې وُو چې د هغوئ اولاد د دې جوګه
وو چې فوجی خِدمت له يې شپږ دېرش زره سړی ورکړل.
٥ د منلے شوی حِساب کِتاب په مطابق د يساکار قبيلې د
ټولو کورَنو اووهٔ اتيا زره داسې سړی شمېرلے شوی وُو چې
کوم د فوجی خِدمت کولو قابل وُو.

## د بنيامين او د دان اولاد

٦ د بنيامين درې زامن وُو: بالع، بکر او يديعيل. ٧ د
بالع پينځهٔ زامن وُو: اصبان، عُزی، عُزیاېل، يريموت او
عيری. د هغوئ په ډله کښې د قبيلو مشران او تکړه فوجيان
وُو. د هغوئ په اولاد کښې دوويشت زره او څلور دېرش
سړی شامل وُو چې د فوجی کار کولو قابل وُو. ٨ د بکر
نههٔ زامن وُو: زميره، يوآس، اِلیعزر، اليوعينی، عُمری،
يريموت، ابياه، عنتوت او علمت. ٩ د هغوئ په نسب‌نامه
کښې شل زره او دوه سوه د قبيلو مشرانو او تکړه فوجيانو
نومونه ليکلی شوی وُو. ١٠ د يديعيل يو زوئ بِلهان وو او د
بِلهان اووهٔ زامن وُو: يعوس، بنيامين، اهُود، کنعانه، زيتان،
ترسيس او اخی‌سحر. ١١ هغوئ د قبيلې مشران او تکړه
فوجيان وُو. د هغوئ په اولاد کښې اوولس زره او دوه سوه
داسې سړی شامل وو چې کوم د فوجی کار کولو قابل وُو.
١٢ د سفيم او حُفيم تعلق هم د دې قبيلې سره وو. حشيم د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

احير زوئ وو.

## د نفتالی اولاد

۱۳ د نفتالی ځلور زامن وُو: يحزیایل، جونی، يصر، سلوم.
هغوئ د يعقوب د بلې ښځې بِلهاه اولاد وو.

## د منسی اولاد

۱۴ د منسی د آرامی وينځې نه دوه زامن اسریاېل او مکير
وُو. مکير د جِلعاد پلار وو. ۱۵ مکير يوه ښځه د حُفيم او
يوه ښځه د سفيم دپاره وکړه. د هغهٔ د خور نوم معکه وو. د
مکير دويم زوئ صِلافحاد وو او د هغهٔ صِرف لوڼه وې. ۱۶
د مکير د ښځې معکې دوه زامن پيدا شول، چې په هغوئ
باندې يې فرس او شرس نومونه کېښودل. د فرس دوه زامن
اولام او رِقم وُو، ۱۷ او د اولام يو زوئ وو چې نوم يې بدان
وو. دا ټول د جِلعاد اولاد دے چې د مکير زوئ او د منسی
نمسے وو. ۱۸ د هغهٔ د خور همولکت درې زامن وُو:
اِشهود، ابيعزر او محله. ۱۹ د سميدع ځلور زامن وُو:
اخيان، شِکم، لِقحی او انيعام.

## د اِفرائيم اولاد

۲۰ دا نسل په نسل د اِفرائيم اولاد دے: سوتلح، بيرِد، تحت،
اِليعده، تحت، ۲۱ زاباد او سوتلح. د اِفرائيم دوه نور زامن
ايصر او اِليعد ښوک چې په هغه وخت کښې ووژلے شول
چې کله هغوئ د جات د خلقو د ښاروو پټولو کوشش کولو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۲ د هغوئ پلار اِفرائيم تر ډېرو ورځو پورې په هغوئ پسې
غمژن وو او د هغهٔ خپلوان تسلىٰ ورکولو له ورله راتلل. ۲۳
هغه د خپلې ښځې سره بيا څملاستو او هغه اُميدواره شوه او
يو زوئ يې پېدا شو. هغهٔ ورباندې برِيعاه نوم کېښودو، دا د
هغه مصيبت په وجه چې د هغوئ په خاندان باندې راغلے
وو. ۲۴ د اِفرائيم يوه لور وه چې نوم يې سيراه وو. هغې د
بره او ښکته بيت‌حورون او عُزن سيراه ښارونه جوړ کړل.
۲۵ د اِفرائيم يو بل زوئ هم وو چې نوم يې رفح وو، چې د
هغهٔ اولاد دا دے: رسف، تلاح، تحن، ۲۶ لعدان، عميهود،
اليسمع، ۲۷ نون او يشوَع. ۲۸ کومه علاقه چې هغوئ
ونيوله او په کښې اوسېدل په دې کښې بيت‌ايل او د دې نه
ګېرچاپېره ښارونه، د نمرخاتهٔ طرف نعران او د نمرپرېواتهٔ
طرف ته جزر او د دې نه ګېرچاپېره ښارونه شامل وُو. په دې
کښې شِکم او عياه او د دې نه ګېرچاپېره ښارونه هم شامل
دی. ۲۹ د منسى اولاد د بيت‌شان، تعنک، مِجدو او دور او د
دې نه ګېرچاپېره ښارونه ونيول. دا ټول هغه ځايونه دی چرته
چې د يعقوب د زوئ يوسف اولاد اوسېدو.

## د آشر اولاد

۳۰ دا د آشر اولاد دے. د هغهٔ څلور زامن وُو: يمنه، اِسواه،
اِسوى او برِيعاه، او يوه يې لور سِره وه. ۳۱ د برِيعاه دوه
زامن حِبر او مُلکی‌ايل وُو. مُلکی‌ايل د برزاويت ښار جوړ
کړو. ۳۲ د حِبر درې زامن وُو: يفليط، شومير او خوتام، او
يوه يې لور سوع وه. ۳۳ د يفليط درې زامن وُو: فاساک،
بمهال او عسوات. ۳۴ د سمر زامن اخى، روهجه، يُخبه او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

آرام ؤو. ۳۵ د هغهٔ د ورور حيلم خلور زامن ؤو: صوفح،
اِمنع، سلس او عمل. ۳۶ د صوفح اولاد دا وو: سوح،
حرنفر، سعال، بيرى، اِمراه، ۳۷ بصر، هُود، سما، سلسه،
يتران او بيرا. ۳۸ د يتر اولاد دا وو: يفُنه، فِسفا، ارا، ۳۹ او
د عُله اولاد دا وو: ارخ، حنىايل او رضياه. ۴۰ دا ټول د آشر
اولاد وو. هغوئ د خپلو ډلو اولنى مشران، تکړه او مشهور
جنګيالى او داسې مشران ؤو چې مثال يې نهٔ وو. د آشر په
اولاد کښې شپږويشت زره داسې سړى ؤو چې د فوجى کار
کولو قابل ؤو.

## د بنيامين اولاد

**۸** ۱ د بنيامين پينځهٔ زامن ؤو، د عُمر په ترتيب هغوئ
داسې دى: بالع، اشبيل، اخرخ، ۲ نوحه او رفا. ۳ د بالع
اولاد دا وو: ادار، جيرا، ابيهود، ۴ ابيسوع، نعمان، اخوع،
۵ جيرا، سفوفان او حيرام. ۶-۷ د اهُود اولاد نعمان،
اخياه او جيرا وو. هغوئ د هغه کورَنو مشران ؤو چې په
جبعه کښې اوسېدل، خو هغوئ په زور وويستلے شول او په
مانحت کښې اوسېدل. جيرا په سفر کښې د هغوئ مشرى
کوله. جيرا د عُزا او اخيهود پلار وو. ۸-۹ د سحريم دوه
ښځې، حشيم او بعراه طلاقې کړې. وروستو چې کله هغه د
موآب په مُلک کښې اوسېدو نو هغهٔ هودس وادهٔ کړه او اووهٔ
زامن يې پېدا شول: يوباب، ضِبيه، ميسا، مُلکام، ۱۰
يعوض، سکياه او مِرمه. د هغهٔ ټول زامن د کورَنو مشران
شول. ۱۱ د هغهٔ د حشيم نه هم دوه زامن پېدا شول:
ابىطوب او الفعل. ۱۲ د الفعل درې زامن ؤو: عِبر، مِشعام

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او سامد. دا سامد وو چې هغهٔ د اونو او لد ښارونه او
ګېرچاپېره کلی جوړ کړل.

## بنیامینیان په جات او ایالون کښې

۱۳ بریعاه او سمع د هغه ډلو مشران وُو چې د ایالون په
ښار کښې اوسېدې او هغه خلق یې وشړل چې د جات په
ښار کښې اوسېدل. ۱۴ د بریعاه په اولاد کښې اخیو،
شاشق، یریموت، ۱۵ زبدیاه، عراد، عدر، ۱۶ میکائیل،
اِسفاه او یوخا شامل وُو.

## بنیامینیان په یروشلم کښې

۱۷ د الفعل په اولاد کښې دا کسان شامل وُو: زبدیاه،
مسلام، حِزقی، حِبر، ۱۸ یسمری، یزلیاه او یویاب. ۱۹ د
سِمعی په اولاد کښې دا کسان شامل وُو: یقیم، زِکری، زبدی،
۲۰ العینی، ضلتی اِلیایل، ۲۱ عدایاه، برایاه او سِمرات.
۲۲ د شاشق په اولاد کښې دا کسان شامل وُو: اِسفان، عِبر،
اِلیایل، ۲۳ عبدون، زِکری، حنان، ۲۴ حننیاه، عیلام،
عنتوتیاه، ۲۵ یفدیاه او فنوایل. ۲۶ د یروحام په اولاد کښې
دا کسان شامل وُو: سمسری، شحاریاه، عتلیاه، ۲۷
یعرسیاه، الیاس او زِکری. ۲۸ دا د خپلو ډلو اولنی مشران
وُو، د هغوئ نومونه په نسب‌نامه کښې لیکلے شوی وُو او
هغوئ ټول په یروشلم کښې اوسېدل.

## بنیامینیان په جبعون او یروشلم کښې

۲۹ یعی‌ایل د جبعون ښار جوړ کړو او هلته اوسېدو. د هغهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د ښځې نوم معکه وه، ۳۰ او د هغهٔ مشر زوئ عبدون وو. د
هغهٔ نور زامن صور، قيس، بعل، نير، ندب، ۳۱ جدور،
اخيو، زکر، ۳۲ او مِقلوت چې د سِمعا پلار وو. د هغوئ
اولاد په يروشلم کښې د خپلې قبيلې د نورو کورَنو سره نزدې
اوسېدل.

## د ساؤل بادشاه خاندان

۳۳ نير د قيس پلار وو او قيس د ساؤل بادشاه پلار وو. د
ساؤل څلور زامن وو: يونتن، مُلکىشوَع، ابيناداب او اشبعل.
۳۴ يونتن د مريب بعل پلار وو، چې هغه د ميکاه پلار وو.
۳۵ د ميکاه څلور زامن وُو: فيتون، مُلک، تاريع او احاز.
۳۶ احاز د يهوعده پلار وو، چې هغه د درېو زامنو پلار وو:
علمت، عزماوت او زِمرى. زِمرى د موضا پلار وو، ۳۷
موضا د بِنعه پلار وو، بِنعه د رفعه، رفعه د اِلعاسه، اِلعاسه د
اصيل پلار وو. ۳۸ د اصيل شپږ زامن وُو: عزريقام، بوکرو،
اِسمٰعيل، سعرياه، عبدياه او حنان. ۳۹ د اصيل د ورور
عيشق درې زامن وُو: اولام، يعوس او اليفلط. ۴۰ د اولام
زامن تکړه فوجيان او د غشو ويشتونکى وُو. د هغهٔ ټول زامن
او نمسى يو نيم سل وُو. دا ټول کسان د بنيامين اولاد وو.

## د خلقو آزادېدل او واپس راتلل

۹ ۱ د ټولو بنى اِسرائيلو نسب‌نامه ليکلے شوې وه او دا
معلومات د بنى اِسرائيلو د بادشاهانو د تاريخ په کِتاب کښې
ليکلے شوى دى. د يهوداه خلق د خپلې نافرمانۍ په وجه بابل
ته ويستلے شوى وُو. ۲ وړومبى کسان چې په خپلو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پخوانو ښارونو کښې جائیدادونو ته راواپس شول نو په هغې
کښې اِمامان، لیویان، د مالِک خُدائ د کور خِدمت کوونکی
او نور بنی اِسرائیلیان وُو. ٣ د یهوداه، بنیامین، اِفرائیم او
منسی قبیلو خلق یروشلم ته د اوسېدو دپاره لاړل. ٤-٦ د
یهوداه د قبیلې لس کم اووۀ سوه خاندان داسې وُو چې لاړل
او په یروشلم کښې اوسېدل. په دې کښې د یهوداه د قبیلې د
فارص اولاد د قبیلې مشر عوتی وو، چې د عمیهود زوئ او د
عُمری نمسے وو. د هغۀ په پلار نیکۀ کښې اِمری او بانی
شامل وُو. د یهوداه زوئ سیله د قبیلې مشر عسایاه وو، چې
هغه د خپل خاندان مشر وو. د یهوداه زوئ زارح د قبیلې
مشر یعی‌ایل وو. ٧-٨ د بنیامین قبیلې دا کسان لاړل او
په یروشلم کښې اوسېدل: د مسلام زوئ سلو، چې مسلام د
هُوداویاه زوئ وو، هُوداویاه د هسینوآه زوئ وو، او ورسره د
یروحام زوئ اِبنیاه وو، ایله چې د عُزی زوئ او د میکری
نمسے وو، د سفطیاه زوئ مسلام، سفطیاه د رعوایل زوئ
وو او رعوایل د اِبنیاه زوئ وو. ٩ د دې قبیلې نهۀ سوه
شپږ پنځوس خاندان لاړل او هلته اوسېدل. د دې لیکلے شوو
نومونو ټول سړی د کورَنو مشران وُو.

## هغه اِمامان چې یروشلم ته د اوسېدو دپاره لاړل

١٠-١٢ په واپس راغلو اِمامانو کښې دا کسان وُو: یدعیاه،
یهویریب او یکین. د خِلقیاه زوئ عزریاه چې د مالِک خُدائ
د کور مشر آفسر وو، چې د هغۀ په پلار نیکۀ کښې مسلام،
صدوق، مرایوت او اخیطوب شامل وُو. د یروحام زوئ
عدایاه، چې د هغۀ په پلار نیکۀ کښې فشحور او مُلکیاه شامل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وُو، او ورسره د عدىايل زوئ معسى، چې د هغۀ په پلار نيکۀ
کښې يحزيراه، مسلام، مسلميت او اِمير شامل وُو. ۱۳ کوم
اِمامان چې د ډلو مشران وُو هغه ټول يو زر اووۀ سوه او
شپېتۀ وُو. هغوئ د خُدائ پاک د کور د خِدمت د کار دپاره
ښۀ تکړه سړى وُو.

## هغه ليويان چې واپس راغلل او په يروشلم کښې اوسېدل

۱۴-۱۶ دا ليويان يروشلم ته واپس راغلل: د حسوب زوئ
سمعياه، چې د هغۀ په پلار نيکۀ کښې د مرارى د قبيلې
عزريقام او حسبياه شامل وُو، بقبقر، حرس، جلال او د ميکا
زوئ متنياه، چې د هغۀ په پلار نيکۀ کښې زِکرى او آسف
شامل وُو، د سمعياه زوئ عبدياه، چې د هغۀ په پلار نيکۀ
کښې جلال او يدوتون شامل وُو، برکياه، چې د آسا زوئ او
القنه نمسے وو، چې هغه د نطوفاتى ښار په علاقه کښې
اوسېدو.

## د مالِک خُدائ د کور څوکيدارانو راواپس کېدل او په يروشلم کښې اوسېدل

۱۷ د مالِک خُدائ د کور څوکيداران په يروشلم کښې
اوسېدل: سلوم، عقوب، طلمون او اخيمان. سلوم د هغوئ
مشر وو. ۱۸ د دې نه مخکښې د هغو ډلو کسان د نمرخاتۀ
طرف د بادشاه د دروازې سره ولاړ وُو. هغوئ به د ليويانو د
خېمو په دروازو باندې څوکيدارى کوله. ۱۹ د قورې زوئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د ابیآسف نمسے سلوم، سره د خپلو خلقو چې د قورح
پله وه د مالِک خُدائ د حضور د خيمې د ننوتلو ځائ
حِفاظت ذمه وار وُو، لکه څنګه چې مخکښې د هغوئ پلار
نيکۀ د مالِک خُدائ د اوسېدو د ځائ د حِفاظت ذمه وار وُو.
۲۰ د اِلیعزر زوئ فينحاس، په يو وخت کښې د هغوئ
مشری کړې وه او مالِک خُدائ د هغۀ مل وو. ۲۱ د
مسلمياه زوئ زکرياه هم د مالِک خُدائ د حضور د خيمې د
ننوتلو د ځائ څوکيدار وو. ۲۲ ټول دوه سوه او دولس
سړی د دروازو دپاره څوکيداران خوښ کړے شوی وُو. د
هغوئ نومونه د هغه کلو په مطابق ليکلے شوی وُو چې چرته
هغوئ اوسېدل. داؤد او سموئيل پيغمبر د هغوئ پلار نيکۀ په
دې اهم کار باندې مقرر کړی وُو. ۲۳ هغوئ او د هغوئ
اولاد د مالِک خُدائ د خيمې د دروازو د حِفاظت ذمه وار
وُو. ۲۴ په هر طرف باندې يوه يوه دروازه وه، شمالی،
جنوبی، نمرخاتۀ او نمرپرېواتۀ ته او د هرې يوې دروازې يو
يو مشر څوکيدار وو. ۲۵ د هغوئ هغه خپلوان کوم چې په
کلو کښې اوسېدل نو هغوئ به وخت په وخت راتلل او د
هغوئ سره به يې اووۀ ورځې خِدمت کولو. ۲۶ هغه څلور
مشران څوکيداران ليويان وُو چې هغوئ له پوره ذمه واری
ورکړے شوې وه. هغوئ د مالِک خُدائ د کور د کوټو او د
هغه قيمتی سامان هم خيال ساتلو چې کوم هلته کېښودے
شو. ۲۷ هغوئ د مالِک خُدائ کور سره نزدې دېره وُو،
ځکه چې د هغوئ کار د دې حِفاظت او په هر سحر کښې د
دروازو کولاول وُو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## نور ليويان

٢٨ څۀ ليويان د عبادت د سامان ذمه وار وُو. چې کله به دا
وړلے يا واپس راوړلے شو نو هغوئ به دا شمېرلو. ٢٩ نور
د مقدس ځائ د سامان، د اوړو، د ميو، د زيتُونو تېلو،
خوشبويۍ او مصالحو ذمه وار وُو. ٣٠ خو د مصالحو د
ګډولو ذمه وارى د اِمامانو وه. ٣١ د قورح د قبيلې د ليوى
قبيلې د سلوم مشر زوئ چې نوم يې متتياه وو، هغه د هغه
روټۍ پخولو ذمه وار وو چې په نذرانو کښې استعمالېدله. ٣٢
د قُهات د قبيلې څۀ کسان د هر سبت په ورځ د مالِک خُدائ
کور دپاره د مقدسې روټۍ تيارولو ذمه وار وُو. ٣٣ د ليويانو
څۀ خاندان د مالِک خُدائ د کور د سندرو ذمه وارې وې. د
دې کورَنو مشران د مالِک خُدائ د کور په يو څو کوټو کښې
اوسېدل او د نورو کارونو کولو نه آزاد وُو، ځکه چې هغوئ
به شپه او ورځ کار کولو. ٣٤ دا ټول کسان د هغوئ د پلار
نيکۀ د نسب‌نامې په مطابق د ليويانو د خاندان مشران وُو.
هغوئ د يروشلم د اوسېدونکو خلقو مشران وُو.

## د ساؤل بادشاه پلار نيکۀ او اولاد

٣٥ يعی‌ايل د جبعون ښار جوړ کړو او هلته دېره شو. د هغۀ
د ښځې نوم معکه وو. ٣٦ د هغۀ مشر زوئ عبدون وو او د
هغۀ نور زامن دا وُو: صور، قيس، بعل، نير، ندب، ٣٧
جدور، اخيو، زکرياه او مِقلوت ٣٨ چې د سِمعام پلار وو. د
هغوئ اولاد د خپلې قبيلې د نورو کورَنو سره نزدې په يروشلم
کښې اوسېدل. ٣٩ نير د قيس پلار وو او قيس د ساؤل پلار

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وو. د ساؤل ځلور زامن ؤو: یونتن، مُلکیشوَع، ابینداب او
اشبعل. ۴۰ یونتن د مریب بعل پلار وو، چې هغه د میکاه
پلار وو. ۴۱ د میکاه ځلور زامن ؤو: فیتون، مُلک، تاریع او
احاز. ۴۲ احاز د یعراه پلار وو، چې هغه د درېو زامنو پلار
وو: علمت، عزماوت او زِمری. زِمری د موضا پلار وو، ۴۳
موضا د بِنعه پلار وو، بِنعه د رفایاه، رفایاه د اِلعاسه او
اِلعاسه د اصیل پلار وو. ۴۴ د اصیل شپږ زامن ؤو:
عزریقام، بوکرو، اِسمٰعیل، سعریاه، عبدیاه او حنان.

## د ساؤل مرګ

١٠ ١ فلستیانو د بنی اِسرائیلو خِلاف د جِلبوعه په غر
باندې یو جنګ وکړو. هلته ډېر بنی اِسرائیلیان ووژلے شول
او د هغوئ نور پاتې کسان سره د ساؤل بادشاه او د هغهٔ د
زامنو وتښتېدل. ٢ خو فلستیان ساؤل او د هغهٔ زامنو ته
ورنزدې شول او د ساؤل درې زامن یونتن، ابینداب او
مُلکیشوَع یې ووژل. ٣ د ساؤل نه ګېرچاپېره سخت جنګ
وو او هغه په کښې د دشمن په غشو باندې ولګېدو او سخت
زخمی شو. ٤ نو هغه زلمی ته یې ووئیل چې کوم د هغهٔ
وسله وړله، ”خپله تُوره راوباسه او ما پرې ووهه، ګنې هغه
ناسنته کسان به راشی او زما بېعزتی به کوی.“ خو زلمے
یرېدو او داسې یې نهٔ کول، نو ساؤل خپله تُوره واخسته او په
هغې باندې یې ځان وروغورزولو. ٥ کله چې هغه زلمی
ولیدل چې ساؤل مړ شو، نو هغهٔ هم خپل ځان په خپله تُوره
وروغورزولو او مړ شو. ٦ نو ساؤل او د هغهٔ درې واړه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زامن په یو ځائ مړهٔ شول او د هغهٔ د اولاد هیچا هم بادشاهی
ونهٔ کړه. ۷ چې د یزرعیل په وادئ کښې چې کوم بنی
اِسرائیلیان وُو نو چې هغوئ خبر شول چې لښکر تښتېدلے
دے او ساؤل او د هغهٔ زامن مړهٔ شوی دی، نو هغوئ خپل
ښارونه پرېښودل او منډه يې کړه. او بیا فلستیان راغلل او
ښارونه يې قبضه کړل. ۸ په ورپسې ورځ، فلستیان د مړو
لوټ کولو له لاړل او هغوئ د ساؤل او د هغهٔ د زامنو لاشونه
ومونډل چې د جِلبوعه په غرهٔ باندې پراتهٔ وُو. ۹ هغوئ د
ساؤل سر پرې کړو، د هغهٔ نه يې زغره کولاو کړه او د هغوئ
سره يې ټولو فلستیانو ته پېغام وړُونکی ولېږل چې خپلو
معبودانو او خپلو خلقو ته دا زېرے واوروی. ۱۰ هغوئ د
هغهٔ وسله په خپله یوه عبادتخانه کښې کېښوده او د هغهٔ سر
يې د خپل خُدائ دجون په عبادتخانه کښې راځوړند کړو. ۱۱
کله چې د یبیس خلقو په جِلعاد کښې دا واورېدل چې
فلستیانو د ساؤل سره څهٔ کړی وُو، ۱۲ نو د هغوئ ټول
تکړه سړی لاړل او د ساؤل او د هغهٔ د زامنو لاشونه يې
واخستل او یبیس ته يې یوړل. هلته هغوئ دا د څېړئ د ونې
لاندې ښخ کړل او اووهٔ ورځې يې روژه ونیوله. ۱۳ ساؤل
ځکه مړ شو چې د مالِک خُدائ سره يې خیانت وکړو او د
مالِک خُدائ د حُکمونو نافرمانی يې وکړه. هغهٔ د کوډګرې
ښځې په ذریعه د مړو د روحونو سره مشورې هم کولې. ۱۴
په کار خو دا وُو چې د مالِک خُدائ نه يې مشوره اخستې
وے. نو مالِک خُدائ هغه ووژلو او د بادشاهۍ اختیار يې د
یَسی زوئ داؤد له ورکړو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حضرت داؤد بادشاه جوړېدل

١١ ١ بيا ټول بنی اِسرائيليان په حبرون کښې داؤد له
لاړل او ورته يې ووئيل، ”مونږ ستا خپله وينه يُو. ٢ په تېره
زمانه کښې، کله چې لا ساؤل زمونږ بادشاه وو، نو تهٔ هغه
څوک وې چې په جنګ کښې دې د بنی اِسرائيلو مشری کوله
او مالِک خُدائ ستا خُدائ پاک تا سره دا لوظ وکړو چې تهٔ
به د هغهٔ د خلقو بنی اِسرائيلو حکمران يې.“ ٣ نو د بنی
اِسرائيلو ټول مشران په حبرون کښې داؤد له راغلل. هغهٔ د
مالِک خُدائ په مخکښې د هغوئ سره يو لوظ وکړو. هغوئ د
مقررولو دپاره په هغهٔ باندې تېل واچول او هغه د بنی اِسرائيلو
بادشاه شو، هم هغه شان چې څنګه مالِک خُدائ د سموئيل
په ذريعه وعده کړې وه.

## د حضرت داؤد يروشلم فتح کول

٤ داؤد بادشاه او ټول بنی اِسرائيليان لاړل او د يروشلم په
ښار يې حمله وکړه. په هغه وخت کښې يروشلم د يبوس په
نوم يادېدو او د هغهٔ مُلک اصلی اوسېدونکی يعنې يبوسيان تر
هغه وخته پورې هلته اوسېدل. ٥ يبوسيانو داؤد ته ووئيل،
”تهٔ به هيڅکله ښار ته ورننه نهٔ وځې.“ خو داؤد د هغوئ د
صيون قلعه ونيوله او دا ځائ د داؤد په ښار مشهور شو.
٦ داؤد وفرمائيل، ”کوم يو سړے چې اول په يبوسيانو
حمله وکړی نو هغه به د لښکر مشر وی.“ يوآب چې د هغهٔ
مور ضرورياه وه، هغهٔ اول حمله وکړه او هغه د لښکر مشر
شو. ٧ داؤد په قلعه کښې د اوسېدو دپاره لاړو نو په دې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وجه دا د داؤد ښار بللے شی. ٨ هغۀ ښار جوړ کړو، د
هغه ځائ نه يې شروع وکړه چرته چې بره ختلی پټی وُو او د
ګېرچاپېره علاقې پورې يې خور کړو او يوآب باقی ښار بيا
جوړ کړو. ٩ داؤد نور هم تکړه کېدو، ځکه چې ربُ الافواج
د هغۀ مل وو.

## د حضرت داؤد تکړه فوجيان

١٠ د داؤد د تکړه فوجيانو مشران دا دی. ټولو بنی اِسرائيلو
په شريکه دا فيصله وکړه چې داؤد خپل بادشاه جوړ کړی
لکه څنګه چې مالِک خُدائ وعده کړې وه. ١١ وړومبے د
حکمون د قبيلې يسوبعام وو چې د هغه "درېو آفسرانو" مشر
وو. هغۀ د خپلې نېزې سره د درې سوو سړو خِلاف جنګ
وکړو او هغه ټول يې په يو جنګ کښې ووژل. ١٢ ورپسې د
هغه درېو مشهورو کسانو نه د دودو زوئ اِلیعزر، چې د
اخوحی د قبيلې وو. ١٣ هغه د داؤد په ملګرتيا کښې د
فسدميم په جنګ کښې د فلستيانو خِلاف وجنګېدو. کله چې
بنی اِسرائيلو د فلستيانو نه تښتېدل شروع کړل نو هغه د
اوربشو په يو پټی کښې وو، ١٤ خو بيا هغه او د هغۀ سړی د
پټی په مينځ کښې کلک ودرېدل او فلستيانو له يې شکست
ورکړو. مالِک خُدائ هغۀ له يوه لويه فتح ورکړه. ١٥ يوه
ورځ د مشرانو فوجيانو د دېرشو نه درې کسان يو ګټ له
لاړل چرته چې داؤد د عدولام غار سره نزدې ايسار وو، چې
په دې دوران کښې د فلستيانو يوې فوجی قبيلې د رفائيم په
وادئ کښې خېمې لګولې وې. ١٦ په هغه وخت کښې داؤد
په يوه پخه مورچه کښې وو او د فلستيانو يوې قبيلې بيتلحم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قبضه کړے وو. ۱۷ د داؤد اوبو ته سخت زړۀ وشو او وې
فرمائيل، ”کاش چې څوک ما له د بيت‌لحم دروازې سره
نزدې کوهى نه لږې اوبۀ راوړى.“ ۱۸ نو هغه دريو مشهورو
فوجيانو د فلستيانو په فوجى صفونو کښې لار جوړه کړه، د
کوهى نه يې لږې اوبۀ راوويستلې او داؤد له يې راوړې. خو
هغۀ دا ونۀ څښلے او د څښلو په ځائ يې مالِک خُدائ ته د
نذرانې په توګه توئ کړې ۱۹ او وې فرمائيل، ”دا زۀ هيڅکله
نۀ شم څښلے. دا به د دې سړو د وينې څښلو په شان وى
چا چې خپل ژوند په خطره کښې واچولو.“ نو هغۀ د دې
څښلو نه اِنکار وکړو. دا د هغه دريو تکړه فوجيانو د بهادرۍ
کارنامې وې. ۲۰ د يوآب ورور ابيشے د هغه دريو مشهورو
کسانو مشر وو. هغۀ د خپلې نيزې سره د درې سوو سړو
خِلاف جنګ وکړو او هغوئ يې ووژل او د هغه دريو په شان
مشهور شو. ۲۱ هغه د هغه دريو نه زيات مشهور وو او د
هغوئ مشر شو، خو هغه په هغه دريو کښې شامل نۀ وو. ۲۲
د قبضئيل د يهويدع زوئ بناياه يو تکړه فوجى وو، هغۀ ډېرې
د بهادرۍ کارنامې وکړې، چې په دې کښې د دوو تکړه
موآبيانو جنګيالو وژل هم شامل ؤو. يو ځل چې واوره
وريدله نو هغه لاندې يوې کندې ته لاړو او يو زمرے يې
ووژلو. ۲۳ هغۀ يو مِصرے هم ووژلو، يو لوئ سړے چې
تقريباً دوه نيم ګزه لوړ وو، د هغۀ نيزه د کوټې د تير هومره
لويه وه. بناياه په هغۀ باندې د امسا سره حمله وکړه، د
مِصرى د لاس نه يې نيزه واخستله او په هغې باندې يې
ووژلو. ۲۴ دا د بناياه د بهادرۍ کارنامې وې چې هغه د هغه
دريو په شان مشهور وو. ۲۵ هغه د هغه ديرشو نه زيات
مشهور وو، خو په هغه دريو کښې شامل نۀ وو. داؤد هغه د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپلو ذاتي محافظانو مشر جوړ کړو. ۴۶-۴۷ دا هغه نور
بهادر فوجيان دی: د يوآب ورور عساهيل، د بيت‌لحم د دودو
زوئ اِلحنان، د حرود سموت، د فلون خلص، د تقوع د
عقيس زوئ عيرا، د عنتوت ابيعزر، د حوساتی سِبکی، د
اخوحی عيلی، د نطوفاتی مهری، د نطوفاتی د بعنه زوئ حلد،
په بنيامين کښې د جبعه د ريبی زوئ اِتی، د فِرعاتون بناياه، د
جعس سره نزدې واديانو نه حُوری، د عرباه ابی‌اېل، د بحروم
عزماوت، د سعلبون اليخبه، د جزون هشيم، د حرار نه د
شجی زوئ يونتن، د حرار نه د ساکار زوئ اخی‌آم، د اُور
زوئ الفال، د مکيره زوئ حِفر، د فلون اخياه، د کرمل
حصرو، د ازبی زوئ نعری، د ناتن ورور يوايل، د هاجری
زوئ مِبحار، د عمون صِلق، د بيروت د يوآب زغره وړونکے
نحری، د يتير نه عيرا او جريب، حِتی اورِياه، د اخلی زوئ
زاباد، د سيزا زوئ عدينه چې د روبين قبيلې يو مشر کس
وو، چې د دېرشو فوجيانو يوه خپله ډله يې لرله، د معکه زوئ
حنان، د مِتن يوسفط، د عستارات عُزياه، د عروعير د خوتام
زامن، سما او يعی‌ايل، د تيص نه د سِمری زامن، يديعيل او
يوخا، د محاوه نه اِلی‌ايل، د النعم زامن، يريبی او يوساوياه، د
موآب نه يتمه، اِلی‌ايل، عوبيد او د ضوباه نه يعسی‌اېل.

## د بنيامين د قبيلې نه د حضرت داؤد وړومبنی ملګری

۱۲ ۱ دا هغه سړی دی چې په صِقلاج کښې د داؤد سره
په هغه وخت ملګری شول چې هغه د قيس زوئ ساؤل نه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پېژندو. هغوئ د هغه جنګیالو نه وُو چا چې د داؤد په حق
کښې جنګ وکړو. ۲ دا ټول تکړه لینده چلوونکی وُو،
هغوئ په ښی او ګس لاس دواړو باندې غشی او د لیندې
کاڼی ویشتلے شول. هغوئ د بنیامین د قبیلې نه د ساؤل
خپلوان وُو. ۳-۷ هغوئ د جبعه ښار نه د سماعه د زامنو
د لوئ مشر اخیعزر او دویم مشر یوآس د مشرئ لاندې وُو.
هغه فوجیان دا وُو: یزئیل او فِلِط چې د عزماوت زامن وُو،
براکه او د عنتوت نه یاهُو، د جبعون اِسماعیه چې مشهور
فوجی او د هغه دېرشو نه یو مشر وو، یرمیاه، یحزیٰایل،
یوحانان او د جدیره یوزبد، العوزی، یریموت، بعلیاه،
سمریاه، سفطیاه خروفی، القنه، یسیاه، عزراېل، یوعزر او د
قورح د قبیلې یسویعام، د جدور د یروحام زامن، یوعیله او
زبدیاه.

## د جاد قبیلې نه د داؤد ملګری

۸ کله چې داؤد د صحرا په قلعه کښې وو نو د جاد د قبیلې
نه ځینې تکړه او تجربه‌کار فوجیان د هغهٔ سره ملګری شولو.
هغوئ په ډالونو او نېزو کښې ماهِران وُو، د زمرو په شان
تکړه او په غرونو کښې د هوسئ په شان تېزې منډې یې وهلې.
۹-۱۳ د هغوئ عُهدې په دې ترتیب باندې وې: د ټولو مشر
ایصر، ورپسې عبدیاه، اِلیاب، مسمنه، یرمیاه، عتی، اِلیٰایل،
یوحانان، الزباد، یرمیاه او مکبنی. ۱۴ د جاد قبیلې جنګیالی
فوجی مشران وُو. د هغوئ د ټولو نه کمزورو جنګیالو د سلو
فوجیانو سره جنګ کولے شو او تکړه جنګیالو د زرو خِلاف
جنګ کولے شو. ۱۵ د یو کال په وړومبئ میاشت کښې، په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه وخت کښې چې د اُردن په سیند کښې اوبۀ د غاړو نه
اوړېدلې، نو هغوئ د سیند نه پورې وتل، هغه خلق يې خوارۀ
وارۀ کړل کوم چې د سیند نمرخاتۀ او نمرپرېواتۀ دواړو
طرفونو ته په وادۍ کښې اوسېدل.

## د بنیامین او د یهوداه د قبیلې ملګری

۱۶ یو ځل د بنیامین او یهوداه د قبیلو د سړو یوه ډله هغه
قلعې ته لاړه چرته چې داؤد وو. ۱۷ داؤد مِلاوېدو له ورَغلو
او ورته يې وفرمائيل، "کۀ تاسو د دوستانو په شان دلته زما
مدد له راغلی يئ، نو په خیر راغلئ. زمونږ سره ملګری شئ.
خو کۀ ستاسو اراده دا وی چې دوکه مې کړئ او دشمن ته
مې حواله کړئ، اګر چې ما تاسو له د تکلیف رسولو کوشش
هم نۀ دے کړے، نو زمونږ د پلار نیکۀ خُدائ پاک به د دې نه
خبر شی او تاسو له به سزا درکړی." ۱۸ د خُدائ پاک روح
د هغوئ په یو کس عماسی باندې راغلو، چې هغه وروستو د
هغه دېرشو مشر شو او هغۀ چغه ووهله، "د یَسی زوئ داؤده،
مونږ ستا يُو. کاميابی دې ستا او د هغوئ وی چې څوک ستا
مدد کوی. ځکه چې خُدائ پاک ستا مل دے." داؤد هغوئ ته
په خیر راغلے ووئیلو او په خپل لښکر يې آفسران جوړ کړل.

## د منسی ملګری

۱۹ د منسی قبیلې څۀ فوجیان واوړېدل او د داؤد په طرف
شول، دا په هغه وخت کښې چې کله هغه د فلستیانو سره د
ساؤل بادشاه خِلاف جنګ له روان وو. په آخر کښې هغوئ د
فلستیانو مدد نۀ شو کولے، ځکه چې د هغوئ بادشاهان د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دې نه يرېدل چې داؤد به د هغوئ نه خپل پخوانی نېک ساؤل
ته واوړی، نو هغه يې واپس صِقلاج ته ولېږلو. ۲۰ دا د
منسی هغه فوجيان دی چې کله داؤد واپس صِقلاج له راتلو
نو هغوئ د هغهٔ په طرف شول: عدنه، يوزبد، يديعيل، ميکائيل،
يوزبد، اليهُو او ضلتی. په منسی کښې د هغوئ هر يو د زرو
زرو سرو فوجی قبيلې وې. ۲۱ هغوئ د هغه ډلو خِلاف د
داؤد ملګرتيا وکړه چې ځوک ډاکوان وُو، ځکه چې هغوئ
ټول تکړه جنګيالی وُو او د هغهٔ د لښکر مشران وُو. ۲۲
تقريباً هره ورځ به نوی سړی د داؤد سره شاملېدل، تر دې
پورې چې د هغهٔ لښکر د خُدائ پاک د لښکر په شان لوئ
شو.

## د حضرت داؤد د لښکرو شمېر

۲۳-۳۷ کله چې داؤد په حبرون کښې وو، نو ډېر تکړه
فوجيان د هغهٔ په لښکر کښې ملګری شول د دې دپاره چې د
ساؤل په ځائ يې بادشاه جوړ کړی، لکه څنګه چې مالِک
خُدائ وعده کړې وه. د هغوئ شمېر داسې وو: يهوداه: شپږ
زره او اتهٔ سوه ښهٔ وسله بند سړی، چې ډالونه او نېزې
ورسره وې، شمعون: اووهٔ زره او سل ښهٔ تکړه سړی، ليوی:
څلور زره او شپږ سوه سړی، د هارون اولاد، د يهويدع ډله:
درې زره او اووهٔ سوه سړی، په دې کښې يو بهادر جنګيالے
زلمے صدوق هم شامل وو، سره د هغهٔ د دوويشتو خپلوانو
چې ټول آفسران وُو، بنيامين چې د ساؤل خپله قبيله وه: درې
زره سړی (د بنيامين زيات خلق د ساؤل وفادار پاتې شوی
وُو)، اِفرائيم: شل زره او اتهٔ سوه تکړه سړی چې په خپلو ډلو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې مشهور وُو، نمر پرېواتۀ طرف ته منسی: اتلس زره
سړی چې د داؤد د بادشاه جوړولو دپاره خوښ کړے شول،
يساکار: دوه سوه سړی، سره د هغه سړو چې د هغوئ د
مشرئ لاندې وُو (دا مشران په حالاتو او واقعاتو باندې
پوهېدل او هغوئ ته پته وه چې بنی اِسرائيلو له څۀ کول په
کار دی)، زبولون: پنځوس زره وفادار او داسې اعتباری
سړی چې د جنګ دپاره تيار وُو، چې د هر قِسم وسلې په
استعمالېدو باندې پوهېدل، نفتالی: يو زر مشران، سره د اووه
دېرشو زرو سړو چې په ډالونو او نېزو باندې وسله بند وُو،
دان: اتۀويشت زره او شپږ سوه تکړه سړی، آشر: څلوېښت
زره سړی چې د جنګ دپاره تيار وُو، د اُردن سيند نمرخاتۀ
طرف ته قبيلې، روبين، جاد او نمرخاتۀ طرف ته منسی: يو
سل او شل زره سړی چې د هر قِسم وسلې په استعمالېدو
باندې پوهېدل. ۳۸ دا ټول فوجيان چې د جنګ دپاره تيار
وُو، حبرون ته لاړل. د هغوئ اراده دا وه چې داؤد په ټولو بنی
اِسرائيلو بادشاه جوړ کړی. نو د ټولو بنی اِسرائيلو په دې
خبره باندې اتفاق وو. ۳۹ هغوئ هلته د داؤد سره درې
ورځې تېرې کړې، د هغه مېلمستيا نه يې خوړل څښل کول
چې د هغوئ خپلوانو ورله تيار کړے وو. ۴۰ د شمالی قبيلو
د يساکار، زبولون او نفتالی پورې خلق د خرونو، اوښانو،
قچرو او غوَيو سره راتلل چې په خوراک، اوړو، اينځرو،
کشمشو، ميو او د زيتُونو تېلو باندې بار وُو. هغوئ څاروی
او ګډې هم راوستل چې حلالې يې کړی او وې خوری. دا هر
څۀ د هغه خوشحالئ اظهار وو چې په ټول مُلک کښې
محسوسېدله.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د لوظ صندوق د قِریَت‌یعریم نه وړل کېدل

١٣ ١ داؤد بادشاه د هغه ټولو آفسرانو سره مشوره
وکړه چې زرو سرو د ډلو او د سلو سرو د ډلو مشران وُو.
٢ بیا هغهٔ ټولو بنی اِسرائیلو ته اِعلان وکړو چې، ”کهٔ تاسو
ته منظوره وی او کهٔ دا د مالِک خُدائ زمونږ د خُدائ پاک
رضا وی، نو راځئ چې زمونږ باقی خلقو له او د هغوئ په
ښارونو کښې اِمامانو او لیویانو له پېغام وړُونکی ولېږُو او
هغوئ ته ووایو چې دلته مونږ سره راغونډ شی. ٣ نو بیا به
مونږ لاړ شُو او د خُدائ پاک د لوظ صندوق به راوړُو، چې د
ساؤل بادشاه په وخت کښې ورته توجو نهٔ وه شوې.“ ٤
ټول خلق دې ته راضی شول، ځکه چې خلقو ته پته ولګېده
چې دا خبره صحیح ده. ٥ نو داؤد د ټول مُلک نه بنی
اِسرائیلیان راغونډ کړل، په جنوب کښې د مِصر د سرحد نه
واخله په شمال کښې د حمات درې پورې، د دې دپاره چې د
لوظ صندوق د قِریَت‌یعریم نه یروشلم ته راوړی. ٦ داؤد او
نور ټول بنی اِسرائیلیان د بعله یعنې قِریَت‌یعریم ښار ته لاړل
چې د یهوداه په علاقه کښې دے، د دې دپاره چې د خُدائ
پاک د لوظ صندوق راوړی، هغه صندوق چې د مالِک خُدائ
په نوم یادیږی چې هغه د وزرو والا مخلوق په مینځ کښې په
تخت باندې دے. ٧ د ابیناداب د کور نه هغوئ د لوظ
صندوق راوویستلو او په یوه نوې ګاډۍ باندې یې کېښودو.
عُزه او اخیو د ګاډۍ لاربښودنه کوله، ٨ په دې دوران کښې
داؤد او ټول خلق د خپل ټول طاقت سره د خُدائ پاک د
درناوی دپاره ګډېدل. سندرې یې وئیلې او ربابُونه، تمبلونه،
چمټې او بیګلې یې غږولې. ٩ کله چې هغوئ د کیدون

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

درمند ته راغلل، نو غوَیانو تیندک وخوړو، عُزه خپل لاس
وراوږد کړو او د لوظ صندوق یې رایسار کړو. ١٠ نو مالِک
خُدائ سمدستی عُزه ته غصه شو او صندوق له د لاس د
وړلو په وجه یې ووژلو. هغه هلته د خُدائ پاک په حضور
کښې مړ شو، ١١ داؤد په قهر وو ځکه چې مالِک خُدائ عُزه
له په غصه کښې سزا ورکړې وه. نو هغه ځائ تر اوسه پورې
فارص‌عُزه بللے شی. ١٢ بیا داؤد د خُدائ پاک نه ویرېدو
او وې فرمائیل، "زهٔ اوس د لوظ صندوق څنګه د ځان سره
یوسم؟" ١٣ نو داؤد دا د ځان سره په یروشلم کښې د داؤد
ښار ته یو نهٔ وړو. د هغې په ځائ دا یې د یو سړی په کور
کښې پرېښودو چې نوم یې عوبید ادوم وو، چې د جات ښار
نه وو. ١۴ دا هلته درې میاشتې پاتې شو او مالِک خُدائ د
عوبید ادوم خاندان او هغه هر څهٔ له برکت ورکړو چې د هغهٔ
وُو.

## په یروشلم کښې د حضرت داؤد کارنامې

١۴ ١ د صور بادشاه حیرام داؤد له پیغام ورُونکی
ولېږل، هغهٔ ورله د دِیار د لرګو سره د کاڼو، ګِلکارانو او
ترکاڼانو بندوبست وکړو چې یو محل جوړ کړی. ٢ نو
داؤد ته پته ولګیده چې مالِک خُدائ هغه د بنی اِسرائیلو
بادشاه جوړ کړے دے او د خپلو خلقو په خاطر یې د هغهٔ
بادشاهۍ له برکت ورکړے دے. ٣ هلته په یروشلم کښې
داؤد نورې ښځې وادهٔ کړې او نور زامن او لوڼه یې پیدا
شوې. ۴ د هغهٔ دا بچی په یروشلم کښې پیدا شوی وُو:

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سموع، سوياب، ناتن، سليمان، ۵ اِبحار، اليسوع، الفالط،
۶ نجه، نفج، يفيع، ۷ اليسمع، بعليدع او اليفلط.

## په فلستيانو باندې فتح

۸ کله چې فلستيان خبر شول چې هغه د بنى اِسرائيل په
ټول مُلک باندې بادشاه جوړ شوے دے، نو د هغوئ ټول
لښکر د هغهٔ د نيولو دپاره لاړو. او داؤد د هغوئ سره جنګ
له روان شو. ۹ فلستيان د رفائيم وادۍ ته رسيدلی وُو او
لوټ مار يې شروع کړو. ۱۰ داؤد د خُدائ پاک نه تپوس
وکړو، "ما له په فلستيانو باندې حمله کول په کار دی څهٔ؟ تهٔ
به ما له فتح راکړې؟" مالِک خُدائ جواب ورکړو، "آو، حمله
پرې وکړه. زهٔ به تا له فتح درکړم." ۱۱ نو داؤد په
بعل‌پراضيم کښې په هغوئ باندې حمله وکړه او شکست يې
ورکړو. هغهٔ وفرمائيل، "خُدائ پاک زهٔ د سېلاب په شان
استعمال کړے يم چې د دشمن لښکر په مخه يوسم." نو په
دې وجه د هغه ځائ نوم بعل‌پراضيم دے. ۱۲ کله چې
فلستيان تښتېدل، نو هغوئ خپل بُتان د ځان نه وروستو
پرېښودل او داؤد حُکم وکړو چې دا دې وسوزولے شی. ۱۳
خو لږ وخت پس فلستيان وادۍ ته راواپس شول او لوټ مار
يې شروع کړو. ۱۴ داؤد يو ځل بيا د خُدائ پاک سره
مشوره وکړه او خُدائ پاک جواب ورکړو، "په هغوئ باندې
د دې ځائ نه حمله مهٔ کوه، خو ورله راتاو شه او د بل طرف
نه ورباندې د حملې کولو تيارے وکړه، چرته چې د تُوت ونې
دی. ۱۵ کله چې د ونو په سرونو د تګ آواز واورې، نو بيا
حمله وکړه، زهٔ به ستاسو نه مخکښې د دې دپاره روان يم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې د فلستيانو لښکر له شکست ورکړم.“ ۱۶ نو داؤد هم
هغه شان وکړل چې څنګه خُدائ پاک حُکم ورکړے وو او
هغه د جبعون نه تر جزر پورې په فلستيانو پسې وو. ۱۷ د
داؤد شُهرت په هر ځائ کښې خور شو او مالِک خُدائ ټول
قومونه د هغهٔ نه يرول.

## د لوظ صندوق د وړلو تيارے کول

۱۵ ۱ داؤد د ځان دپاره د داؤد په ښار کښې کورونه
جوړ کړل. هغهٔ د خُدائ پاک د لوظ صندوق دپاره هم يو
ځائ تيار کړو او د دې دپاره يې يوه خيمه ودروله. ۲ بيا
هغهٔ وفرمائيل، ”صِرف ليويان به د لوظ صندوق وړى، ځکه
چې هغوئ هغه خوک دى چې مالِک خُدائ د دې د وړلو
دپاره خوښ کړى دى او چې د هميشه دپاره د هغهٔ خِدمت
کوى.“ ۳ نو داؤد ټول بنى اِسرائيليان د دې دپاره راغونډ
کړل چې د لوظ صندوق هغه ځائ ته راوړى چې کوم يې
ورله تيار کړے وو. ۴ نو بيا هغهٔ د هارون اولاد او ليويانو
راوغوښتلو. ۵ د قُهات د قبيلې اورى‌ايل خوښ کړے شو،
چې د خپلې قبيلې د يو سل او شلو کسانو مشر وو، ۶ د
مرارى قبيلې نه عساياه، چې د خپلې قبيلې د دوو سوو او
شلو کسانو مشر وو، ۷ د جيرسون قبيلې نه يوايل، چې د
خپلې قبيلې د يو سل او ديرشو کسانو مشر وو، ۸ د
اليصفن قبيلې نه سمعياه، چې د دوو سوو کسانو مشر وو،
۹ د حبرون قبيلې نه اِلى‌ايل، چې د اتياو کسانو مشر وو،
۱۰ د عُزى‌ايل قبيلې نه عمى‌نداب، چې د خپلې قبيلې د يو
سل او دولسو کسانو مشر وو. ۱۱ داؤد صدوق او ابياتار

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اِمامان او دا شپږ لېويان يې راوغوښتل: اورىاېل، عساياه،
يوايل، سمعياه، اِلىاېل او عمىنداب. ۱۲ هغهٔ ورته وفرمائيل،
”تاسو د لېويانو قبيلې مشران يئ. خپل ځانونه او خپل لېويان
پاک کړئ، نو چې تاسو د مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو د
خُدائ پاک د لوظ صندوق هغه ځائ ته راوړئ چې ما ورله
تيار کړے دے. ۱۳ په وړومبی ځل تاسو دا رانهٔ وړو، نو
ځکه مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک مونږ له سزا راکړې ده
چې مونږ د هغهٔ نه دا تپوس نهٔ دے کړے چې څنګه يې
يوسو.“ ۱۴ بيا اِمامانو او لېويانو د دې دپاره خپل ځانونه
پاک کړل چې د مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو د خُدائ پاک د
لوظ صندوق يروشلم ته يوسی. ۱۵ لېويانو دا د بازوګانو په
ذريعه په خپلو ولو باندې يوړو، لکه څنګه چې موسىٰ د مالِک
خُدائ د حُکم په مطابق حُکم کړے وو. ۱۶ داؤد د لېويانو
مشرانو له حُکم ورکړو چې څهٔ لېويانو ته يې سندرې وئيل، او
په بينجو، رباب او په چمټو باندې خوندوره موسيقى غږول
حواله کړی. ۱۷-۲۱ د سندرغاړو د ډلو نه هغوئ دا سړی
خوښ کړل چې د زېړو چمټې وغږوی: د يوايل زوئ هيمان،
د هغهٔ خپلوان، د برکياه زوئ آسف او د مراری قبيلې د
قوساياه زوئ ايتان. د هغوئ د مدد او غږولو دپاره يې دا
لېويان خوښ کړل چې د دروند آواز والا بينجو وغږوی:
زکرياه، عُزىاېل، سميراموت، يحىاېل، عُنى، اِلياب، معسياه
او بناياه. د سپک آواز والا بينجو غږولو دپاره هغوئ دا
لېويان خوښ کړل: متتياه، الفلهُو، مِقنياه، عزياه او د
عبادتخانې څوکيداران، عوبيد ادوم او يعىاېل. ۲۲ په
موسيقۍ کښې د مهارت په وجه کنعنياه د دې دپاره خوښ
کړے شوے وو چې د لېوی موسيقارانو مشر شی. ۲۳-۲۴

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

برکیاه او القنه سره د عوبید ادوم او یحیاه، د لوظ صندوق
څوکیداران خوبښ کړے شوی وُو. دا اِمامان د تلو په وخت
د لوظ صندوق په مخکښې د بیګلو غږولو دپاره خوبښ کړے
شوی وُو: شبنیاه، یوسفط، نتنی‌ایل، عماسی، زکریاه، بنایاه
او اِلی‌عزر.

## د لوظ صندوق یروشلم ته وړلے کېدل

۲۵ نو داؤد بادشاه، د بنی اِسرائیلو مشران او فوجی مشران
د عوبید ادوم کور ته لاړل چې د مالِک خُدائ د لوظ صندوق
راوچت کړی. او هغوئ یو لوئ جشن جوړ کړے وو. ۲۶
هغوئ اووهٔ غوَیِی او اووهٔ ګډان حلال کړل، چې دا خبره
یقینی شی چې مالِک خُدائ به د هغه لیویانو سره مدد کوی
چا چې د لوظ صندوق وړلو. ۲۷ داؤد د مهینې لتې نه جوړه
شوې چُوغه اغوستې وه او موسیقارانو، د هغوئ مشر
کنعنیاه او هغه لیویانو هم د مهینې لتې چُوغې اغوستې وې
چا چې صندوق وړلو. داؤد د لتې پېش بند هم اغوستے وو.
۲۸ نو داسې ټول بنی اِسرائیلیان د لوظ صندوق سره
یروشلم ته روان وُو. او د خوشحالئ نه یې چغې وهلې، د
بیګلو، ښکرو، چمټو او بینجو د موسیقئ آوازونه وُو. ۲۹ کله
چې د لوظ صندوق ښار ته راوړلے شو، نو په دې وخت
کښې د ساؤل لور او د داؤد ښځې میکل د کړکئ نه بهر وکتل
او وې لیدل چې داؤد بادشاه د خوشحالئ نه ټوپونه وهل، نو
هغې ورته په زړهٔ کښې سپک وکتل.

## ۱۶

۱ هغوئ د لوظ صندوق هغه خېمې ته یوړو چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

داؤد ورله تياره کړې وه او هغه يې په خېمه کښې دننه
کېښودو. بيا هغوئ خُدائ پاک ته سوزېدونکې نذرانې او د
سلامتۍ نذرانې پېش کړې. ٢ کله چې داؤد سوزېدونکې
نذرانې او د سلامتۍ نذرانې پېش کول بس کړل، نو هغۀ د
مالِک خُدائ په نوم باندې خلقو له برکت ورکړو. ٣ بيا
هغۀ په ټول بنى اِسرائيل کښې هر سړى او ښځې له يوه روټۍ،
د غوښې يوه برخه او څۀ کشمش ورکړل. ٤ داؤد څۀ
ليويان مقرر کړل چې د لوظ صندوق مخامخ د مالِک خُدائ
د بنى اِسرائيلو د خُدائ پاک خِدمت وکړى او د هغۀ ثناء
صِفت وکړى. ٥ آسف د هغوئ مشر وو او دا سړى د هغۀ
مددګاران مقرر شُو: زکرياه، يعى‌ايل، سميراموت، يحى‌ايل،
متتياه، اِلياب، بناياه، عوبيد ادوم او يعى‌ايل. هغوئ به بينجو
غږولې. آسف چمتې غږولې، ٦ او دې دوو اِمامانو بناياه او
يحزى‌ايل به د لوظ صندوق په وړاندې هره ورځ بيګلې غږولې.
٧ هم په هغه ورځ داؤد آسف او د هغۀ ليويانو له د مالِک
خُدائ د ثناء صِفت کولو ذمه وارى ورکړه.

## د حضرت داؤد حمدوثناء

٨ د مالِک خُدائ شکريه ادا کړئ، د هغۀ د لويئ اِعلان
وکړئ، قومونو ته ووايئ چې هغۀ څۀ کړى دى. ٩ د مالِک
خُدائ حمدوثناء ووايئ، د هغه عجيبه کارونو په حقله ووايئ
چې هغۀ کړى دى. ١٠ په دې باندې خوشحالى وکړئ چې
مونږ د هغۀ يُو، چې څوک د هغۀ طلب کوى هغه ټول دې
خوشحاله شى. ١١ د مالِک خُدائ او د هغۀ د طاقت لټون
کوئ او هر وخت د هغۀ په حضور کښې اوسئ. ١٢-١٣ د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خُدائ پاک د خِدمت کوونکی یعقوب اولاده، د هغه بنی
اِسرائیل اولاده، چې کوم خُدائ پاک خوښ کړے وو، هغه
معجزې یادې ساتئ چې خُدائ پاک کړی دی او هغه عدالت
چې کوم هغهٔ کړے دے. ۱۴ هغه مالِک خُدائ زمونږ خُدائ
پاک دے، د هغهٔ حُکمونه د ټولې دُنیا دپاره دی. ۱۵ د خُدائ
پاک لوظ هیڅکله مهٔ هېروئ، چې کوم د پېړو پېړو پورې نهٔ
ختمېدونکے لوظ دے، ۱۶ کوم لوظ چې هغهٔ د اِبراهیم سره
کړے وو، هغه وعده چې هغهٔ د اِسحاق سره کړې وه. ۱۷
مالِک خُدائ د یعقوب سره یو لوظ وکړو، هغه لوظ چې نهٔ
ختمېدونکے دے. ۱۸ هغهٔ وفرمائیل، ”زهٔ به تاسو له د
کنعان مُلک درکړم، دا به ستاسو خپل میراث شی.“ ۱۹ د
خُدائ پاک خلق په شمېر کښې کم وُو، چې د کنعان په مُلک
کښې مسافر وُو. ۲۰ هغوئ د یو مُلک نه بل مُلک ته
سرګردانه ګرځېدل، د یوې بادشاهئ نه بلې بادشاهئ ته تلل
راتلل. ۲۱ خو خُدائ پاک هیڅ خوک پرې نهٔ ښودل چې د
هغوئ سره بد سلوک وکړی، د هغوئ د حِفاظت دپاره هغهٔ
بادشاهانو له خبردارے ورکړو، ۲۲ ”زما خوښ کړے شوو
خِدمت کوونکو ته ضرر مهٔ رسوئ، زما پېغمبرانو ته تکلیف
مهٔ رسوئ.“ ۲۳ اے ټولې دُنیا، د مالِک خُدائ صِفت
وکړئ، د هغه زیری اِعلان هره ورځ کوئ چې هغه بچ کول
کوی. ۲۴ قومونو ته د هغهٔ د جلال اِعلان وکړئ، ټولو خلقو
ته د هغهٔ د عجیبه کارنامو بیان وکړئ. ۲۵ مالِک خُدائ لوئ
دے او د هغهٔ دې لوئی او ثناء صِفت وشی، د نورو ټولو
خُدایانو نه دې د هغهٔ زیات درناوے وشی. ۲۶ د نورو ټولو
قومونو خُدایان تش بُتان دی، خو مالِک خُدائ آسمانونه پیدا
کړی دی. ۲۷ د هغهٔ نه ګېرچاپېره جلال او عزت دے، د هغهٔ
Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عبادتخانه د طاقت او د خوشحالئ نه ډکه ده. ۲۸ د زمکې
ټولو قومونو، د مالِک خُدائ ثناء صِفت وکړئ، د هغهٔ د جلال
او د طاقت ثناء صِفت وکړئ. ۲۹ د مالِک خُدائ د ستائنې
وړ نوم لوئی بیان کړئ، نذرانه راوړئ او د هغهٔ حضور ته
راشئ. کله چې هغه مقدسه هستی څرګندیږی نو د هغهٔ په
وړاندې سجده وکړئ، ۳۰ اے ټولې دُنیا، د هغهٔ په مخکښې
ورېږدیږئ. زمکه پخه لګولے شوې ده او نهٔ شی خوځېدلے.
۳۱ اے آسمانه او اے زمکې، خوشحالی وکړئ، قومونو ته
ووایئ چې مالِک خُدائ بادشاه دے. ۳۲ سمندر او په هغې
کښې مخلوق دې وغړمبیږی، پټی او په دې کښې هر څهٔ دې
خوشحالی وکړی. ۳۳ د ځنګل ونې به د خوشحالئ نه چغې
ووهی. هغه وخت چې مالِک خُدائ په زمکه بادشاهئ له
راځی. ۳۴ د مالِک خُدائ شُکر ادا کړئ، ځکه چې هغه ښهٔ
دے، د هغهٔ مینه نهٔ ختمیدونکې ده. ۳۵ هغهٔ ته ووایئ، ”اے
زمونږ خلاصوونکیه خُدایه پاکه. مونږ بچ کړه، مونږ په یو
ځائ راغونډ کړه، د قومونو نه مو بچ کړه، نو چې داسې مونږ
شُکر ګزار شُو او ستا د پاک نوم ستائینه وکړُو. ۳۶ د مالِک
خُدائ د بنی اِسرائیلو خُدائ پاک ثناء صِفت وکړئ، د هغهٔ
ستائینه اوس او د همېشه دپاره کوئ.“ بیا ټولو خلقو ووئیل،
”د مالِک خُدائ ثناء صِفت دې وی، آمین.“

## په یروشلم او جبعون کښې عبادت کول

۳۷ داؤد بادشاه آسف او د هغهٔ ملګری لیویان د هرې ورځې
د خِدمت دپاره مقرر کړل چې په هغه ځائ کښې کېږدو چرته
چې د لوظ صندوق کېښودلے شو. هغوئ به هلته هره ورځ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپلې ذمه وارۍ پوره کولې. ۳۸ د يدوتون زوئ عوبيد ادوم
او د هغهٔ د قبيلې اتهٔ شپېتهٔ سړو د هغوئ مدد کولو. حوسه او
عوبيد ادوم د دروازو د څوکيدارۍ مشران وُو. ۳۹ په دې
دوران کښې، داؤد صدوق اِمام او د هغهٔ ملګرى اِمامان د
جبعون د عبادت په ځائ کښې د مالِک خُدائ په مقدسه
خېمه کښې مقرر کړل. ۴۰ هر سحر او هر ماښام به هغوئ
په قربان‌ګاه باندې سوزېدونکې نذرانې پېش کولې. دا د هغه
ليکلى قانون په مطابق وُو کوم چې مالِک خُدائ بنى اِسرائيلو
له ورکړے وو. ۴۱ هلته د هغوئ سره هيمان، يدوتون او نور
کسان وُو چې کوم خصوصاً د مالِک خُدائ د نهٔ ختمېدونکې
مينې د ثناء صِفت کولو دپاره خوښ کړے شوى وُو. ۴۲
هيمان او يدوتون د بيګلو، چمټو او د موسيقۍ د نورو څيزونو
مشرى هم کوله چې په هغه وخت کښې غږولے شول چې
کله ثناء صِفت وئيلے شو. د يدوتون زامن د دروازې په
څوکيدارۍ مقرر وُو. ۴۳ نو بيا ټول خلق خپلو خپلو کورونو
ته واپس شول او داؤد هم لاړو چې د خپل خاندان د برکت
سبب شى.

## د حضرت داؤد سره د خُدائ پاک لوظ

۱۷ ۱ نو کله چې داؤد بادشاه په خپل محل کښې
اوسېدو، يوه ورځ هغهٔ ناتن پېغمبر راوغوښتو او ورته يې
وفرمائيل، "زهٔ دلته په يو داسې ښائسته کور کښې اوسېږم
چې د دِيار د لرګى نه جوړ دے، خو د مالِک خُدائ د لوظ
صندوق په خېمه کښې پروت دے." ۲ ناتن ورته وفرمائيل،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

”ستا په زړهٔ کښې چې څهٔ وی نو هم هغه شان وکړه، ځکه
چې خُدائ پاک ستا مل دے.“ ۳ خو په هغه شپه د خُدائ
پاک کلام په ناتن نازل شو چې، ۴ ”لاړ شه او زما خِدمت
کوونکی داؤد ته ووايه چې مالِک خُدائ داسې فرمائی چې تهٔ
هغه څوک نهٔ يې چې زما د اوسېدو دپاره يو کور جوړ کړې.
۵ د هغه وخت نه واخله چې ما بنی اِسرائيليان د مِصر نه
راويستلی دی تر اوسه پورې، زهٔ هيڅکله په يو کور کښې نهٔ
يم اوسېدلے، زهٔ همېشه په يوه خيمه کښې اوسېدلے يم چې
د يو ځائ نه به بل ځائ ته تلم. ۶ ما چې د بنی اِسرائيلو
سره څومره سفر هم کړے دے او چې ما څوک د خپلو
خلقو د رهنمائی دپاره مقرر کړی دی ما د هغوئ يو کس ته
هم نهٔ دی وئيلی چې هغوئ زما دپاره د دِيار نه يو کور ولې نهٔ
دے جوړ کړے. ۷ نو زما خِدمت کوونکی داؤد ته ووايه
چې زهٔ ربُ الافواج هغهٔ ته وايم چې ما تهٔ په پټو کښې د ګډو
د شپونتوب نه اوچت کړې او د خپلو خلقو بنی اِسرائيلو
بادشاه مې جوړ کړې. ۸ تهٔ چې چرته هم تلے يې نو زهٔ
ستا مل وم او چې تهٔ مخ په وړاندې تلې نو ما ستا ټولو
دشمنانو له شکست ورکړے دے. زهٔ به تا د دُنيا د لويو
مشرانو په شان مشهور کړم. ۹-۱۰ ما د خپلو خلقو بنی
اِسرائيلو دپاره يو ځائ خوښ کړے دے او هلته مې آباد
کړی دی، چې هلته به هغوئ بغېر د څهٔ تکليف نه ژوند
تېروی. د کوم وخت نه چې هغوئ دې مُلک ته ننوتلی دی او
ما ورباندې قاضيان مقرر کړی وُو تر نن ورځې پورې په
هغوئ باندې ظالمان خلق زياتے کوی، خو داسې به بيا نهٔ
کيږی. زهٔ دا وعده کوم چې زهٔ به ستا ټولو دشمنانو له
شکست ورکړم او اولاد به درکړم. ۱۱ کله چې تهٔ مړ شې او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د خپل پلار نیکهٔ سره ښخ شي، نو زهٔ به ستا د زامنو نه يو
زوئ بادشاه جوړ کړم او د هغهٔ بادشاهی به مضبوطه کړم.
۱۲ هغه به هغه څوک وی چې زما دپاره يو کور جوړ کړی
او زهٔ به دا خبره يقينی کړم چې د هغهٔ بادشاهی به د همېشه
دپاره قائمه وی. ۱۳ زهٔ به د هغهٔ پلار يم او هغه به زما زوئ
وی. زهٔ به د هغهٔ نه خپله نهٔ ختمېدونکې مينه نهٔ لرې کوم لکه
څنګه چې ما د ساؤل نه لرې کړه، چې هغه ما د دې دپاره
لرې کړو چې تهٔ بادشاه شې. ۱۴ زهٔ به هغه زما د کور او
زما د بادشاهئ د همېشه دپاره مشر جوړ کړم. د هغهٔ
بادشاهی به هيڅکله نهٔ ختمېږی.“ ۱۵ ناتن داؤد ته هغه هر
څهٔ وفرمائيل چې مالِک خُدائ ورته په رويا کښې ښودلی وُو
او کلام يې هم ورسره کړے وو.

## د حضرت داؤد دُعا

۱۶ بيا داؤد بادشاه د مالِک خُدائ د حضور خيمې ته
ورننه شو، کښېناستو او دُعا يې وکړه، ”مالِکه خُدايه، خُدايه
پاکه، زهٔ څوک يم او زما خاندان به څهٔ وی چې تا مونږ تر
دې پورې راورسولو. ۱۷ خو تهٔ نور هم ډېر څهٔ کوې، تا په
راتلونکی وخت کښې زما د اولاد په حقله وعدې کړې دی او
مالِکه خُدايه، خُدايه پاکه، تهٔ ما سره د يو اوچت مقام لرونکی
کس په شان سلوک کوې. ۱۸ زهٔ نور تا ته څهٔ ووايم. تهٔ ما
ښهٔ پېژنې او بيا هم د خپل خِدمت کوونکی يعنې زما درناوے
کوې. ۱۹ اے مالِکه خُدايه، د خپل خِدمت کوونکی د
خاطره، او د خپلې مرضئ په مطابق تا دا ټول لوئ لوئ
کارونه کړی او ښودلی دی. ۲۰ مالِکه خُدايه، ستا په شان

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هيڅ څوک هم نشته، موږ هيڅکله دا نۀ دی اورېدلی چې ستا
په شان بل خُدائ پاک شته. ۲۱ د زمکې په مخ د بنی
اِسرائيلو په شان بل قوم نشته، کوم چې تا په بيعه د غلامۍ نه
آزاد کړل چې ستا خپل خلق شی. تا چې کوم لوئ او عجيبه
کارونه کړی دی د هغې په وجه ستا نوم مشهور شو. تا خپل
خلق د مِصر نه آزاد کړل او چې کله هغوئ مخ په وړاندې تلل
نو تا هغه نور قومونه وشړل. ۲۲ تا بنی اِسرائيليان د همېشه
دپاره خپل خلق جوړ کړی دی او مالِکه خُدايه اوس تۀ د
هغوئ خُدائ پاک جوړ شوے يې. ۲۳ نو اوس، اے مالِکه
خُدايه، تا چې زما او زما د اولاد په حقله کومې وعدې کړې
دی هغه د همېشه دپاره پوره کړه او هغه څۀ وکړه چې تا د
څۀ په حقله فرمائيلی دی. ۲۴ ستا شُهرت به لوئ وی او
خلق به د تل دپاره وائی چې، ”ربُ الافواج د بنی اِسرائيلو
خُدائ پاک دے.“ او تۀ به د همېشه دپاره زما د اولاد د
بادشاهۍ حِفاظت کوې. ۲۵ زما خُدايه پاکه، زۀ دا جرأت
کوم چې زۀ ستا نه دا سوال وکړم، ځکه چې دا هر څۀ تا
خپل خِدمت کوونکی يعنې ما ته خرګند کړی دی او تا ما ته
فرمائيلی دی چې تۀ به زما اولاد نه بادشاهان جوړوې. ۲۶
مالِکه خُدايه، تۀ خُدائ پاک يې او تا د خپل خِدمت کوونکی
سره د دې ښو خيزونو وعده کړې ده. ۲۷ نو زۀ تا ته سوال
کوم چې زما اولاد له برکت ورکړه. مالِکه خُدايه، هغوئ به د
همېشه دپاره ستا په برکت کښې پاتې شی او ستا برکت دې د
همېشه دپاره د هغوئ سره وی.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د حضرت داؤد کاميابى

۱۸ ۱ څۀ موده وروستو داؤد بادشاه يو ځل بيا په
فلستيانو حمله وکړه او شکست يې ورکړو. هغۀ د هغوئ د
قبضې نه د جات ښار او ګيرچاپيره کلى واخستل. ۲ هغۀ
موآبيانو له هم شکست ورکړو، او هغوئ د هغۀ د بادشاهۍ
لاندې راغلل او هغۀ له يې محصُول ورکولو. ۳ بيا، داؤد د
ضوباه بادشاه هددعزر له شکست ورکړو او د حمات پورې
لاړو، ځکه چې کله هددعزر مخ په وړاندې تلو نو د فرات
سيند پورې علاقه يې قبضه کړه. ۴ داؤد د هغۀ يو زر
جنګى ګاډى، اووۀ زره په آسونو سوارۀ سړى او شل زره
پياده فوجيان ونيول. هغۀ دومره آسونه پرېښودل چې د سلو
جنګى ګاډو دپاره کافى وُو او باقى چې کوم پاتې وُو نو هغه
ټول يې ګوډ کړل. ۵ کله چې د دمشق شاميانو د هددعزر
بادشاه د مدد دپاره يو لښکر ولېږلو، نو داؤد وريانديې حمله
وکړه او دوويشت زره سړى يې ترې نه ووژل. ۶ بيا هغۀ د
هغوئ په علاقه کښې فوجى کيمپونه ولګول او هغوئ د هغۀ د
بادشاهۍ لاندې راغلل او هغۀ له يې محصُول ورکولو. مالِک
خُدائ داؤد له په هر ځائ کښې فتح ورکوله. ۷ داؤد د
سرو زرو هغه ډالونه قبضه کړل چې کوم د هددعزر آفسرانو
وړل او دا يې يروشلم ته يوړل. ۸ هغۀ د طِبخت او قون
ښارونو نه په لوئ مِقدار کښې زېړ هم يوړل، چې په دې
ښارونو باندې هددعزر بادشاهى کوله. وروستو سليمان دا د
زېړو ډيګى، ستنو او د عبادتخانې د زېړو د لوښو جوړولو
دپاره استعمال کړل. ۹ د حمات بادشاه توعو خبر شو چې
داؤد د هددعزر ټول لښکر له شکست ورکړے دے. ۱۰ نو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغهٔ خپل زوئ هدورام ورولېږلو چې داؤد بادشاه ته سترې
مشې وکړی او په هددعزر باندې د فتح موندلو مبارکی
ورکړی، چې د هغهٔ خِلاف توعو څو ځلې جنګېدلے وو.
هدورام داؤد له تُحفې راوړې چې د سرو زرو، سپينو زرو او
زېړو نه جوړې وې. ۱۱ داؤد بادشاه دا څيزونه وقف کړل
چې په عبادت کښې استعمال شی، سره د هغه سپينو او سرو
زرو چې د هغه قومونو نه يې اخستی وُو چې کوم يې فتح
کړی وُو لکه چې ادوم، موآب، عمون، فلستيه او عماليق. ۱۲
ابيشی چې د هغهٔ مور ضرویاه وه، هغهٔ د مالګې په مېدان
کښې ادوميانو له شکست ورکړو او د هغوئ نه يې اتلس زره
کسان ووژل. ۱۳ هغهٔ په ټول ادوم کښې فوجی کېمپونه
ولګول او د هغه ځائ خلق د داؤد د بادشاهئ لاندې راغلل.
مالِک خُدائ داؤد له په هر ځائ کښې فتح ورکوله. ۱۴ داؤد
په ټولو بنی اِسرائيلو باندې حکومت کولو او دا خبره يې يقينی
کړه چې د هغهٔ د خلقو سره هميشه د حق او اِنصاف سلوک
کيږی. ۱۵ د ابيشی ورور يوآب د فوج مشر وو، د اخيلود
زوئ يهوسفط منشی وو، ۱۶ د اخيطوب زوئ صدوق او د
ابياتار زوئ اخيمُلک اِمامان وُو، شَوشا د دربار منشی وو،
۱۷ د يهويدع زوئ بناياه د داؤد د محافظانو مشر وو، او د
داؤد زامنو د هغهٔ په خِدمت کښې لوئې عُهدې لرلې.

## د حضرت داؤد عمونيانو او شاميانو له شکست ورکول

۱۹ ۱ څهٔ موده وروستو عمونيے بادشاه ناحس مړ شو
او د هغهٔ زوئ حنون بادشاه جوړ شو. ۲ داؤد بادشاه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وفرمائيل، ”زۀ به حنون ته خپله وفاداری هم هغه شان ښايم
لکه څنګه چې د هغۀ پلار ناحس ما ته وفاداری ښودلې وه.“
نو داؤد پيغام وړُونکی ورولېږل چې هغۀ ته د خپلې غمرازۍ
اظهار وکړی. کله چې هغوئ عمون ته ورسېدل او حنون
بادشاه هغوئ راوغوښتل، ٣ نو د عمونيانو مشرانو بادشاه
ته ووئيل، ”ستا خيال دا دے چې داؤد د غمرازۍ دپاره کوم
سړی رالېږلی دی نو په دې وجه ستا د پلار عزت کيږی څۀ؟
په حقيقت کښې داسې نۀ ده. هغۀ دا د جاسوسۍ دپاره
رالېږلی دی چې مُلک ولټوی، او فتح يې کړی.“ ٤ نو حنون
د داؤد پيغام وړُونکی ونيول او د هغوئ نه يې ږيرې کلې
کړې، د هغوئ چُوغې يې د کوناټو سره پرې کړې او هغوئ
يې ولېږل. ٥ نو هغوئ دومره سخت شرمېدل چې خپلو
کورونو ته نۀ شول واپس کېدلے. کله چې داؤد خبر شو چې
څۀ شوی وُو، نو هغۀ هغوئ له خبر ورولېږلو چې په يريحو
کښې ايسار شئ او تر هغې پورې واپس مۀ راځئ چې ترڅو
پورې مو ږيرې بيا نۀ وی شوې. ٦ حنون بادشاه او
عمونيانو ته پته ولګېده چې هغوئ داؤد بادشاه غصه کړے
دے، نو هغوئ څلور دېرش زره کلو سپين زر ورکړل چې د
برنی مسوپتاميه او د شامی علاقو معکه او ضوباه نه جنګی
ګاډۍ او د ګاډو چلوونکی په مزدورۍ ونيسی. ٧ هغۀ دوه
دېرش زره جنګی ګاډۍ چې هغوئ په کرايه ونيولې او د معکه
بادشاه لښکر راغلو او د ميدبا سره نزدې يې خيمې ولګولې.
عمونيان هم د خپلو ټولو ښارونو نه راووتل او د جنګ دپاره
تيار شول. ٨ کله چې داؤد د حالاتو نه خبر شو، نو هغۀ
يوآب او ټول لښکر ورولېږلو. ٩ عمونيان روان شول او د
شاهی ښار ربه دروازې سره يې د جنګ دپاره صفونه جوړ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړل او هغه بادشاهان چې کوم د مدد دپاره راغلی ؤو نو
هغوئ هم په کولاو میدان کښې صفونه جوړ کړل. ۱۰ يوآب
ته پته ولګېده چې د دشمن لښکر به په هغهٔ باندې د مخې او
شا د طرف نه حمله وکړی، نو هغهٔ ښهٔ تکړه بنی اِسرائیلی
فوجیان خوښ کړل او هغوئ یې د جنګ دپاره شامیانو ته
مخامخ ودرول. ۱۱ هغهٔ باقی پاتې فوجیان د خپل ورور
ابیشی د مشرئ لاندې راوستل، چې هغهٔ دوئ د جنګ دپاره
عمونیانو ته مخامخ ودرول. ۱۲ يوآب هغهٔ ته ووئیل، "کهٔ تا
ته پته ولګی چې شامیان ما له شکست راکوی، نو راشه او
زما مدد وکړه او کهٔ عمونیان تا له شکست درکوی، نو زهٔ به
درشم او ستا مدد به وکړم. ۱۳ تکړه شه او حوصله
مضبوطه کړه. راځئ چې د خپلو خلقو او زمونږ د خُدائ
پاک د ښارونو دپاره سخت جنګ وکړُو. او د مالِک خُدائ
مرضی دې پوره شی." ۱۴ يوآب او د هغهٔ سرِی د حملې
کولو دپاره وړاندې شول او شامیان وتښتېدل. ۱۵ کله چې
عمونیانو ولیدل چې شامیان منډې وهی، نو هغوئ د ابیشی نه
وتښتېدل او ښار ته واپس ننوتل. بیا يوآب یروشلم ته واپس
لاړو. ۱۶ شامیانو ته پته ولګېده چې هغوئ د بنی اِسرائیلو نه
شکست خوړلے دے، نو هغوئ د فرات سیند نمرخاتهٔ طرف
ته د شام علاقو نه فوجیان راوستل او هغوئ یې د سوفک د
مشرئ لاندې کړل، چې د ضوباه د هددعزر بادشاه د لښکر
مشر وو. ۱۷ کله چې داؤد د دې نه خبر شو، نو هغهٔ د بنی
اِسرائیلو فوجیان راغونډ کړل، د اُردن سیند نه پورې وتل او
شامیانو ته یې مخامخ د جنګ دپاره ودرول. او جنګ شروع
شو، ۱۸ او بنی اِسرائیلو د شامیانو فوج واپس وشړلو. داؤد
او د هغهٔ سرِو اووهٔ زره د شام د جنګی ګاډو چلوونکی او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځلوېښت زره پېدل فوجيان ووژل. هغوئ د شاميانو د فوج
مشر، سوفک هم ووژلو. ۱۹ کله چې هغه بادشاهانو ته پته
لګېده کوم چې د هددعزر د بادشاهئ لاندې وُو چې هغوئ د
بنى اِسرائيلو نه شکست خوړلے دے، نو هغوئ د داؤد سره
د امن تړون وکړو او د هغهٔ د بادشاهئ لاندې راغلل. شاميانو
بيا هيڅکله دا ونهٔ غوښتل چې د عمونيانو مدد وکړى.

## د حضرت داؤد ربه قبضه کول

۲۰ ۱ په ورپسې سپرلى کښې، د کال په هغه وخت
کښې چې بادشاهان عموماً د جنګ دپاره ځى، يوآب لښکر
روان کړو او د عمون مُلک يې تباه کړو، اګر چې داؤد بادشاه
په يروشلم کښې ايسار وو. هغوئ د ربه ښار محاصره کړو او
په دې يې حمله وکړه او تباه يې کړو. ۲ د عمونيانو د بُت
مولک يو د سرو زرو تاج وو چې تقريباً ځلور دېرش کلو
وزن يې وو. په دې کښې يو قيمتى کاڼے وو، کوم چې داؤد
يوړو او په خپل تاج کښې يې ولګولو. هغهٔ د هغه ښار نه ډېر
زيات مالِ غنيمت هم يوړو. ۳ هغهٔ د ښار خلق بوتلل او په
زور يې ترې نه د ارو، د اوسپنې کودالو او د تبرُونو کار
اخستلو. هغهٔ د عمون د نورو ټولو ښارونو په خلقو هم دغه
شان وکړل. بيا هغه او د هغهٔ سړى يروشلم ته را واپس شول.

## د فلستيانو د دېوانو خِلاف جنګونه

۴ وروستو په جزر کښې د فلستيانو سره جنګ بيا شروع
شو. د جنګ په دوران کښې د حوسه سِبکى يو دېو ووژلو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې د هغه دېو نوم سفی وو. او فلستیانو شکست وخوړو.
۵ د فلستیانو سره یو بل جنګ وشو او د یائیر زوئ اِلحنان
لحمی ووژلو، لحمی د جات د جولیت ورور وو، او د هغهٔ د
نېزې لاسکے د کوتې د تیر هومره مضبوط وو. ۶ په جات
کښې یو بل جنګ وشو، چې په دې جنګ کښې یو دېو وو
چې د هر لاس یې شپږ ګوتې او د هرې پښې یې هم شپږ ګوتې
وې. هغه د پخوانو دېوانو اولاد وو. ۷ کله چې هغهٔ په بنی
اِسرائیلو پورې ټوقې وکړې، نو یونتن هغه ووژلو، یونتن د
داؤد د ورور د سِمعه زوئ وو. ۸ دا درې کوم چې داؤد او
د هغهٔ سړو وژلی ؤو، هغوئ د جات د دېوانو اولاد وو.

## مردمشماری او وبا

۲۱ ۱ شیطان غوښتل چې په بنی اِسرائیلو باندې
مصیبت راولی، نو هغهٔ داؤد ولمسولو چې یوه مردمشماری
وکړی. ۲ نو داؤد یوآب او نورو آفسرانو له حُکم ورکړو،
”د بنی اِسرائیل مُلک د یو سر نه تر بل سر پورې وګرځئ او
خلق وشمېرئ. ما له تفصیل راوړئ چې پته راته ولګی چې
خلق څومره دی.“ ۳ یوآب جواب ورکړو، ”بادشاه
سلامت، مالِک خُدائ دې بنی اِسرائیلیان د هغې نه یو په سل
زیات کړی چې څومره اوس دی. هغوئ ټول ستا نوکران
دی. تهٔ ټول قوم ولې مجرم کول غواړې؟“ ۴ خو بادشاه په
یوآب باندې دا حُکم ومنلو. نو یوآب لاړو او هغه د بنی
اِسرائیلو په ټول مُلک کښې وګرځېدو او یروشلم ته واپس
راغلو. ۵ هغهٔ داؤد بادشاه د دې نه خبر کړو او د هغه ټولو
سړو شمېر دا وو چا چې جنګ کولے شو: په بنی اِسرائیلو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې یوولس لاکه او په یهوداه کښې څلور لاکه او اویا زره.
٦ یوآب د بادشاه حُکم ته سپک وکتل نو هغهٔ څکه د لیوی
او بنیامین د قبیلو مردمِشماری ونهٔ کړه. ٧ چې څهٔ شوی
وُو خُدائ پاک په هغې ناراضه شو، نو هغهٔ بنی اِسرائیلو له
سزا ورکړه. ٨ داؤد خُدائ پاک ته وفرمائیل، ”ما د دې
کار کولو سره یوه سخته گناه کړې ده. زهٔ تا ته سوال کوم
چې زما غلطی معاف کړه. ما د ډېر کم عقلتوب نه کار
اخستے دے.“ ٩ بیا مالِک خُدائ جاد ته وفرمائیل چا به
چې د داؤد دپاره نبوت کولو، ١٠ ”لاړ شه او داؤد ته ووایه
چې زهٔ هغهٔ له درې خوښې ورکوم. چې هغه کومه یوه خوښه
کړی نو زهٔ به هم هغه شان وکړم.“ ١١ نو جاد داؤد له لاړو
او هغهٔ ته یې وفرمائیل، ”مالِک خُدائ داسې فرمائی چې په
دې کښې یوه خبره خوښه کړه: ١٢ د قحط درې کالونه دې
خوښ دی؟ یا چې خپل دشمن دریاندې درې میاشتې تباهی
راولی؟ او یا چې درې ورځې د مالِک خُدائ د تُورې لاندې
راشې او هغه ستا په مُلک باندې یوه وبا راولېږی، او د خپلې
فرښتې په ذریعه په ټولو بنی اِسرائیلو کښې مرگ راولی؟ نو تهٔ
فېصله وکړه چې زهٔ مالِک خُدائ له څهٔ جواب ورکړم، چا
چې زهٔ رالېږلے یم؟“ ١٣ داؤد جاد ته وفرمائیل، ”زهٔ د
نااُمیدئ په حالت کښې یم. ما دې ته مهٔ پرېږده چې د
انسانانو لاسونو ته حواله شم. زهٔ دې مالِک خُدائ ته حواله
شم، څکه چې د هغهٔ رحم ډېر لوئ دے.“ ١۴ نو مالِک
خُدائ په بنی اِسرائیلو باندې یوه وبا راولېږله او د هغوئ اویا
زره کسان مړهٔ شول. ١۵ بیا هغهٔ د یروشلم د تباه کولو
دپاره یوه تباه کوونکی فرښته راولېږله، خو د تباهئ نه لږ
مخکښې مالِک خُدائ خپله فېصله بدله کړه او د مرگ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

فرښتې ته يې وفرمائيل، ”بس کړه، دا تباهى کافى ده.“ هغه
فرښته د يو يبوسى اُرنان د درمند سره ولاړه وه. ١٦ داؤد
فرښته وليده چې پاس په هوا کښې ولاړه وه او تُوره يې د
يروشلم تباه کولو دپاره په خپل لاس کښې نيولې وه. بيا داؤد
او د خلقو مشران، چا چې د ټاټ جامې اغوستې وې هغه
ټول لاندې ټيټ شول او په زمکه يې سجده ولګوله. ١٧ داؤد
دُعا وکړه، ”اے خُدايه پاکه، زۀ هغه څوک يم چا چې ګناه
کړې ده. زۀ هغه څوک يم چا چې د مردمشمارۍ حُکم
ورکړو. دې غريبانانو خلقو څۀ کړى دى؟ مالِکه خُدايه، زما
خُدايه پاکه. ما او زما خاندان له سزا راکړه او خپل خلق بچ
کړه.“ ١٨ د مالِک خُدائ فرښتې جاد ته وفرمائيل چې داؤد
ته ووايه چې هغه د مالِک خُدائ دپاره د اُرنان په درمند کښې
يوه قربانګاه جوړه کړى. ١٩ داؤد د مالِک خُدائ حُکم
ومنلو او لاړو، هم هغه شان کار يې وکړو چې څنګه ورته جاد
وئيلى ؤو. ٢٠ هلته په درمند کښې اُرنان او د هغۀ څلورو
زامنو غنم غوبل کول او کله چې هغوئ فرښته وليده، نو د
هغۀ زامنو منډه کړه او پټ شول. ٢١ څنګه چې اُرنان داؤد
بادشاه وليدو چې راورسېدو، نو هغه د درمند نه لاړو او د هغۀ
په مخکښې د عزت نه ټيټ شو او په زمکه يې سجده ولګوله.
٢٢ داؤد هغۀ ته وفرمائيل، ”په ما باندې خپل درمند خرڅ
کړه، نو چې داسې زۀ د مالِک خُدائ دپاره يوه قربانګاه
جوړه کړم او چې د دې سره وبا بنده شى. نو زۀ به تا له د
دې پوره قيمت درکړم.“ ٢٣ اُرنان ورته ووئيل، ”بادشاه
سلامت، دا واخله او چې څۀ دې خوښه وى هغه وکړه. دا
غوَيى دې د نذرانې په توګه په قربانګاه باندې وسوزولې شى،
د درمند دا تختې دې د خشاک په توګه استعمال شى او د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نذرانې ورکولو دپاره دا غنم دی. دا هر څۀ زۀ تا له درکوم.“
٢٤ خو بادشاه جواب ورکړو، ”نه، زۀ به تا له پوره قيمت
درکوم. زۀ به مالِک خُدائ ته داسې يوه نذرانه نۀ پېش کوم
چې هغه ما ته مفت مِلاو شوې وی يا هغه ستا وی.“ ٢٥ او
هغۀ اُرنان له د درمند دپاره شپږ سوه د سرو زرو سيکې
ورکړې. ٢٦ هغۀ هلته د مالِک خُدائ دپاره يوه قربانګاه
جوړه کړه او سوزېدونکې او د سلامتۍ نذرانې يې وړاندې
پېش کړې. هغۀ دُعا وکړه او مالِک خُدائ د هغۀ دُعا قبوله
کړه او په قربانګاه باندې د نذرانو سوزولو دپاره مالِک
خُدائ د آسمان نه اور راولېږلو. ٢٧ مالِک خُدائ هغه
فرښتې ته وفرمائيل چې خپله تُوره په کاش کښې واپس کېږده
او فرښتې حُکم ومنلو. ٢٨ نو د دې په وجه داؤد ته پته
ولګېده چې مالِک خُدائ د هغۀ دُعا قبوله کړې ده، نو هغۀ د
اُرنان په درمند کښې په قربانګاه باندې قربانۍ پېش کړې.
٢٩ د مالِک خُدائ د حضور هغه خېمه کومه چې موسیٰ په
بيابان کښې جوړه کړې وه او هغه قربانګاه چې په کومه
باندې قربانۍ سوزولے شوې په هغه وخت کښې لا په جبعون
کښې د عبادت په ځائ کښې وې، ٣٠ خو داؤد د دې جوګه
نۀ وو چې هلته لاړ شی او د خُدائ پاک عبادت وکړی، ځکه
چې هغه د مالِک خُدائ د فرښتې د تُورې نه يرېدو.

# ٢٢

١ نو داؤد وفرمائيل، ”دا هغه ځائ دے چرته به چې
د مالِک خُدائ، د خُدائ پاک کور وی. دلته به هغه قربانګاه
وی چرته چې بنی اِسرائيليان سوزېدونکې نذرانې پېش کوی.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د مالِک خُدائ د کور د عمارت تيارے کول

۲ داؤد بادشاه هغه ټولو مسافرو له حُکم ورکړو کوم چې د
بنی اِسرائيلو په مُلک کښې اوسېدل چې راغونډ شی او د
هغوئ نه يې کار اخستلو. په هغوئ کښې څۀ کسانو د مالِک
خُدائ د کور جوړولو دپاره کاڼی تيارول. ۳ هغۀ د مېخونو
او د لرګی دروازو د تړلو د پټو دپاره په لوئ مِقدار کښې
اوسپنه، او دومره ډېر زيړ ورکړل چې هيچا هم نۀ شُو تللے.
۴ هغۀ د صور او صيدا په خلقو باندې په يو لوئ شمېر
کښې د دِيار لرګی راوړل. ۵ داؤد وفرمائيل چې، "زما زوئ
سليمان چې د مالِک خُدائ کوم کور جوړوی نو هغه دې
خامخا د شان شوکت والا او په دُنيا کښې مشهور وی. خو
هغه کم عُمره او ناتجربهکاره دے، نو زۀ به د هغې دپاره
تيارے وکړم." نو داؤد د خپل مرګ نه مخکښې ډېر زيات
سامان تيار کړو. ۶ هغۀ خپل زوئ سليمان راوغوښتلو او
حُکم يې ورکړو چې د مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو خُدائ
پاک دپاره يو کور تيار کړی. ۷ داؤد هغۀ ته وفرمائيل،
"زما زويه، ما دا غوښتل چې د مالِک خُدائ زما د خُدائ
پاک د درناوی دپاره يو کور جوړ کړم. ۸ خو د مالِک
خُدائ کلام په ما نازل شو چې، تا ډېر خلق وژلی دی او ډېر
جنګونه دې کړی دی. نو چې ما کومه وينه تويه کړې ده د
هغې په وجه به هغه ما دې ته پرې نۀ ږدی چې د هغۀ دپاره
کور جوړ کړم. ۹ خو هغۀ بيا هم ما سره يوه وعده وکړه
چې، ستا به يو زوئ پيدا شی چې هغه به په امن سره
حکومت کوی، ځکه چې زۀ به هغۀ له د هغۀ د ټولو
ګېرچاپېره دشمنانو نه امن ورکړم. د هغۀ نوم به سليمان وی،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې د هغهٔ په بادشاهئ کښې به زهٔ بنی اِسرائيلو له امن
او سلامتی ورکړم. ١٠ هغه به زما دپاره يو کور جوړ کړی.
هغه به زما زوئ وی او زهٔ به د هغهٔ پلار يم. هغه او د هغهٔ
اولاد به د تل دپاره په بنی اِسرائيلو باندې بادشاهی کوی.“ ١١
داؤد خپله خبره جاری وساتله، ”نو زما زويه، مالِک خُدائ
ستا خُدائ پاک دې ستا مل شی او هغه دې خپله وعده پوره
کړی چې تا د هغهٔ دپاره په کور جوړولو کښې کامياب کړی.
١٢ او مالِک خُدائ ستا خُدائ پاک دې پوهه او حِکمت
درکړی نو تهٔ به د هغهٔ د قانون په مطابق په بنی اِسرائيلو
باندې حکومت وکړې. ١٣ کهٔ تهٔ هغه ټول قانون ومنې کوم
چې مالِک خُدائ موسیٰ له د بنی اِسرائيلو دپاره ورکړے وو،
نو تهٔ به کامياب يې. تکړه شه او حوصله مضبوطه کړه او
چې د هيڅ نه هم ونهٔ يريږې. ١٤ او د مالِک خُدائ د کور
دپاره ما په خپل ډير کوشش سره څلور زره ټنه سرهٔ زر او
کم از کم څلويښت زره ټنه سپين زر راغونډ کړی دی چې د
دې په جوړولو کښې استعمال شی. د دې نه علاوه بې‌حسابه
اوسپنه او زيړ هم دی. ما څهٔ لرګی او کاڼی هم تيار کړی دی،
خو تهٔ به نور هم تياروې. ١٥ تا سره ډير د کار والا سړی
دی. د کاڼو جوړولو دپاره سړی شته او ګِلکاران او ترکاڼان
شته، هم داسې په لوئ شمير کښې اُستاذان موجود دی چې
هر قِسم کار کولے شی ١٦ لکه د سرو زرو، سپينو زرو،
زيړو او اوسپنې. اوس کار شروع کړه او مالِک خُدائ دې
ستا مل شی.“ ١٧ داؤد د بنی اِسرائيلو ټولو مشرانو له حُکم
ورکړو چې د سليمان مدد وکړئ. ١٨ هغهٔ وفرمائيل، ”مالِک
خُدائ ستاسو خُدائ پاک ستاسو مل دے او په هر طرف
باندې يې خير درکړے دے. هغهٔ په ما باندې هغه ټول خلق

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

فتح کړل کوم چې په دې مُلک کښې اوسېدل او هغوئ اوس
ستاسو او د مالِک خُدائ لاندې دی. ۱۹ نو اوس د زړۀ د
اخلاصه د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک لټون وکړئ. د
مالِک خُدائ کور جوړول شروع کړئ، نو چې تاسو په هغې
کښې د مالِک خُدائ د لوظ صندوق او هغه نور ټول مقدس
سامان کېږدئ چې د هغۀ په عبادت کښې استعمالیږی.“

۲۳ ۱ کله چې داؤد د ډېر عُمر شو، نو هغۀ خپل زوئ
سلیمان د بنی اِسرائیلو بادشاه جوړ کړو.

## د لیویانو ذمه واری

۲ داؤد بادشاه د بنی اِسرائیلو ټول مشران، ټول اِمامان او
لیویان راغونډ کړل. ۳ هغۀ د هغه ټولو نرانو لیویانو
مردمشماری وکړه چې عُمر یې دېرش کاله یا د دې نه زیات
وو. دا ټول شمېر اتۀ دېرش زره وو. ۴ بادشاه د دې لیویانو
نه څلېریشت زره کسان مقرر کړل چې د مالِک خُدائ د کور
د کار اِنتظام وکړی، شپږ زره کسان چې اِنتظام چلوی او
لانجې هواروی، ۵ څلور زره کسان د څوکیدارئ دپاره او
څلور زره کسان د مالِک خُدائ د حمدوثناء وئیلو دپاره.
هغوئ د موسیقئ هغه څیزونه استعمالول چې بادشاه د دې
دپاره ورکړی ؤو. ۶ داؤد لیویان په درېو ډلو کښې د هغوئ
د قبیلو په مطابق تقسیم کړل، جیرسون، قُهات او مراری.
۷ د جیرسون دوه زامن ؤو، لعدان او سِمعی. ۸ د لعدان
درې زامن ؤو، مشر یحی‌ایل، ورپسې زیتان او یوایل، ۹
چې هغوئ د هغه ډلو مشران ؤو چې د لعدان اولاد وو. د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سِمعی درې زامن وُو، سلومیت، حزی‌ایل او حاران. ۱۰-۱۱
د سِمعی څلور زامن د عُمر په ترتیب دا وُو، یحت، زینا،
یعوس او برِیعاه. د یعوس او برِیعاه بچی ډېر نهٔ وُو، نو په دې
وجه هغوئ یوه ډله شمېرلے کېدل. ۱۲ د قُهات څلور زامن
وُو، عُمرام، اِضهار، حبرون او عُزی‌ایل. ۱۳ د هغهٔ مشر
زوئ عُمرام د هارون او موسیٰ پلار وو. هارون او د هغهٔ اولاد
د دې دپاره مخصوص کړے شوی وُو چې د همېشه دپاره د
مقدسو څیزونو مشران وی، چې د مالِک خُدائ په عبادت
کښې خوشبوئی سوزوی، د هغهٔ خِدمت کوی او د مالِک
خُدائ په نوم باندې د خلقو دپاره برکت غواړی. ۱۴ خو د
خُدائ پاک د خِدمتګار موسیٰ زامن په لیویانو کښې شامل
وُو. ۱۵ د موسیٰ دوه زامن وُو، جیرسوم او اِلی‌عزر. ۱۶ د
جیرسوم په زامنو کښې مشر سبوایل وو. ۱۷ د اِلی‌عزر
صِرف یو زوئ رحبیاه وو، خو د رحبیاه بچی ډېر وُو. ۱۸ د
قُهات د دویم زوئ اِضهار، زوئ سلومیت وو چې د قبیلې
مشر وو. ۱۹ د قُهات دریم زوئ حبرون څلور زامن وُو،
یریاه، امریاه، یحزی‌ایل او یقمعام. ۲۰ د قُهات د څلورم
زوئ عُزی‌ایل دوه زامن میکاه او یسیاه وُو. ۲۱ د مراری
دوه زامن محلی او موشی وُو. د محلی هم دوه زامن اِلی‌عزر
او قیس وو، ۲۲ خو د اِلی‌عزر زامن نهٔ وُو، صِرف لوڼه یې
وې او بې‌زامنو مړ شو. د هغهٔ لوڼو د خپل ترهٔ زامنو یعنې د
قیس د زامنو سره ودونه وکړل. ۲۳ د مراری دویم زوئ
موشی درې زامن وُو، محلی، عدر او یریموت. ۲۴ دا قبیله
په قبیله او خاندان په خاندان د لیوی اولاد دے، چې د هغوئ
هر یو نومونه لیکلے شوی وُو. د هغهٔ د اولاد هر یو کس د
مالِک خُدائ په کور کښې خِدمت کولو چې د هغوئ عُمر
Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شل کاله یا د دې نه زیات وو. ۲۵ داؤد وفرمائیل، ”مالِک
خُدائ د بنی اِسرائیلو خُدائ پاک خپل خلق په امن کړی دی
او هغه به په خپله په یروشلم کښې د تل دپاره اوسیږی. ۲۶
نو لیویانو ته نور ضرورت نشته چې د مالِک خُدائ د حضور
خېمه او هغه ټول سامان یوسی چې په عبادت کښې
استعمالیږی.“ ۲۷ د داؤد د آخری وصیت په بنیاد کله چې
لیویان د شلو کالو عُمر ته رسېدل نو د هغوئ ټولو نومونه د
خِدمت دپاره لیکلے شول، ۲۸ او هغوئ ته دا کارونه حواله
شوی وُو: د مالِک خُدائ د کور په عبادت کښې د هارون د
اولاد مدد کول، د کور د دربارونو او کوټو خیال ساتل، او
چې کوم څیزونه مقدس وُو هغه هر څۀ د پلیتېدو نه پاک
ساتل، ۲۹ خُدائ پاک ته د پېش کړے شوې روټۍ او د هغه
اوړو ذمه واری اخستل چې په نذرانو کښې استعمالېدل، د
خمبیرې نه بغېر نری پخې شوې روټۍ، پخې شوې نذرانې او
اوړۀ چې د زیتُونو تیل ورسره ګډ وی، د مالِک خُدائ د کور
د نذرانو تَلل او مِقدار معلومول، ۳۰ او هر سحر او هر
ماښام د مالِک خُدائ په وړاندې ودرېدل، د هغۀ ثناء صِفت
کول او د هغۀ شُکر ادا کول، ۳۱ او هر کله چې د سبت په
ورځ، د نوې میاشتې په اختر او نورو اخترونو باندې مالِک
خُدائ ته نذرانې سوزولے شوې، نو هغوئ به مدد کولو.
لیویانو به هر ځل د مالِک خُدائ په حضور کښې د سړو د
شمېر په مطابق خِدمت کولو، هغوئ په هغه اصُولو باندې
عمل کولو چې کوم ورته ښودلے شوی وُو. ۳۲ هغوئ له د
مالِک خُدائ د حضور خېمې او کور د خیال ساتلو او د
هغوئ د خپلوانو یعنې د هارون د اولاد اِمامانو د مدد کولو
ذمه واری ورکړے شوې وې، چې دا ذمه واری د مالِک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خُدائ د کور په خِدمت کښې ادا کيدې.

## اِمامانو ته جدا جدا خِدمت حواله کېدل

۲۴ ۱ دا د خِدمت هغه قبيلې دى چې د هارون اولاد په
کښې تقسيم وو. د هارون څلور زامن وُو: ندب، ابيهُو،
اِلىعزر او اِتمر. ۲ ندب او ابيهُو د خپل پلار د مرګ نه
مخکښې مړۀ شول او د هغوئ اولاد نۀ وو، نو د هغوئ ورونړه
اِلىعزر او اِتمر اِمامان شول. ۳ داؤد بادشاه د هارون د
اولاد نه د هغوئ د ذمه وارو په مطابق په ډلو کښې تقسيم
کړل. په دې کار کښې د هغۀ مدد د اِلىعزر اولاد صدوق او د
اِتمر اولاد اخيمُلک کولو. ۴ د اِلىعزر د اولاد نه شپاړس
قبيلې جوړې شوې وې، د اِتمر د اولاد نه اتۀ قبيلې جوړې
وې، داسې په دې وجه شوى وُو چې د اِلىعزر په اولاد کښې
د کورَنو نور مشران وُو. ۵ د اِلىعزر او اِتمر دواړو په اولاد
کښې د مالِک خُدائ په کور کښې د خِدمت دپاره تکړه
آفسران او اِمامان وُو نو ټولې ذمه وارۍ مختلفو ډلو ته د پچې
په ذريعه حواله شوې وې. ۶ د اِلىعزر او د اِتمر اولاد
دپاره وار په وار پچه اچولے شوه. نو د هغوئ نومونه د
نتنىايل زوئ سمعياه ليکلى وُو چې دا يو ليوے منشى وو.
بادشاه، د هغۀ آفسران، صدوق اِمام، د ابياتار زوئ اخيمُلک
او د ليوى قبيلې او د اِمامانو د کورَنو مشران ټول د دې
ګواهان وُو. ۷-۱۸ دا هغه ترتيب دے چې په هغې کښې د
څليريشتو کورَنو ډلو ته خپلې خپلې ذمه وارۍ حواله شوې
وې: يهويريب، يدعياه، حارِم، شعوريم، مُلکياه، ميامين،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هقوض، ابیاه، یشوَع، سکانیاه، اِلیاسب، یقیم، خُفاه، یسباب،
بِلجاه، اِمیر، حزیر، حفضیض، فتحیاه، یحزقیل، یکین،
جمول، دلایاه او معزیاه. ۱۹ د دې سړو نومونه د هغوئ د
ذمه وارو په مطابق لیکلے شوی وُو چې کله هم هغوئ د
مالِک خُدائ کور ته د خپلو هغه ذمه وارو دپاره تلل کوم چې
د هغوئ پلار نیکۀ هارون د مالِک خُدائ د بنی اِسرائیلو خُدائ
پاک د حُکمونو د منلو دپاره مقررې کړې وې.

## د لیویانو نومونه

۲۰ دا د لیوی د اولاد کورَنو نور مشران دی: یهدیاه چې د
سبواېل په ذریعه د عُمرام اولاد وو، ۲۱ یسیاه د رحبیاه
اولاد، ۲۲ یحت، د سلومیت نه د اِضهار اولاد، ۲۳ د عُمر
په ترتیب باندې د حبرون زامن دا وُو، یریاه، امریاه،
یحزی‌ایل، یقمعام، ۲۴ سمیر، د میکاه نه د عُزی‌اېل اولاد،
۲۵ زکریاه، د میکاه ورور یسیاه نه د عُزی‌اېل اولاد، ۲۶ د
مراری اولاد، محلی، موشی او یعزیاه. ۲۷ د یعزیاه درې
زامن وُو، سوهم، زکور او عبری. ۲۸-۲۹ د محلی دوه زامن
اِلی‌عزر او قیس وُو. د اِلی‌عزر زامن نۀ وُو، خو د قیس یو
زوئ یرحمئیل وو. ۳۰ د موشی درې زامن وُو، محلی، عدر
او یریموت. دا د لیویانو خاندان دی. ۳۱ د هر خاندان
مشرانو او کشرانو ورونړو یو شان د هغوئ د ذمه وارو دپاره
پچه اچوله، هم هغه شان لکه څنګه چې د هغوئ خپلوانو یعنې
د هارون د اولاد اِمامانو وُو. داؤد بادشاه، صدوق، اخیمُلک
او د اِمامانو او د لیویانو د کورَنو مشران او د دې ګواهان
وُو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د مالِک خُدائ د کور موسيقاران

٢٥ ١ داؤد بادشاه او د ليويانو مشرانو د ليويانو دا
قبيلې خوښې کړې چې د خُدائ پاک پيغام بيانوى، آسف،
هيمان او يدوتون. دې سرو به د بينجو، ربابونو او چمټو د
موسيقۍ سره پيشګوئې ورکوله. دا د هغه کسانو نومونه دى
کوم چې د عبادت د مشرۍ دپاره خوښ کړے شوى وُو، چې
هرې قبيلې به هم هغه قِسم خِدمت کولو: ٢ د آسف څلورو
زامنو زکور، يوسف، نتنياه او اسرى‌لاه، د آسف د مشرۍ
لاندې کار کولو. چې کله هم بادشاه حُکم کولو نو آسف به د
خُدائ پاک پيغام بيانولو. ٣ د يدوتون شپږو زامنو جدلياه،
ضرى، يشعياه، سِمعى، حسبياه او متتياه، د خپل پلار د
ښودنې لاندې کار کولو، يدوتون د ربابونو د موسيقۍ سره د
خُدائ پاک پيغام بيانولو، حمدوثناء يې وئيله او د مالِک
خُدائ شُکر يې ادا کولو. ٤ د هيمان څوارلس زامنو بُقياه،
متنياه، عُزى‌ايل، سبوايل، يريموت، حننياه، حنانى، الياته،
جدالتى، روممتى عزر، يسبقاشه، ملوتى، هوتير او محازيوت.
٥ خُدائ پاک د خپلې وعدې په مطابق هيمان د بادشاه
پېغمبر له دا څوارلس زامن او درې لوڼه د دې دپاره ورکړې
وې چې هيمان عزتمند شى. ٦ د هغۀ ټولو زامنو د خپل
پلار د ښودنې لاندې چمټې، بينجو او ربابُونه د مالِک خُدائ د
کور په عبادت کښې غږول. او آسف، يدوتون او هيمان د
بادشاه د حُکم لاندې کار کولو. ٧ دا ځليريشت واړه
تجربه‌کار سړى وُو، او د هغوئ خپلوان ليويان تکړه
موسيقاران وُو. دا ټول دوه سوه او اتۀ اتيا سړى وُو. ٨
هغوئ ته د کارونو ذمه وارۍ حواله کولو دپاره پچه اچولے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شوه، کۀ هغوئ ځوانان وُو او یا بوډاګان، کۀ اُستاذان او یا
کۀ شاګردان وُو. ۹-۳۱ دا دوه سوه او اتۀ اتیا سړی د
کورَنو په مطابق د دولسو دولسو کسانو په څلیریشتو ډلو
کښې تقسیم کړے شوی وُو، چې د هرې قبیلې یو یو مشر وو.
هغوئ په دې ترتیب کار کولو: د آسف د خاندان نه یوسف،
جدلیاه، زکور، ضری، نتنیاه، بُقیاه، اسرىٰلاه، یشعیاه، متنیاه،
سِمعی، عُزیٰایل، حسبیاه، سبوایل، متتیاه، یریموت، حننیاه،
یسبقاشه، حنانی، ملوتی، الیاته، هوتیر، جدالتی، محازیوت او
روممتی عزر.

## د مالِک خُدائ د کور څوکیداران

۲۶ ۱ دا هغه ډلې دی چا چې د مالِک خُدائ د کور د
څوکیدارانو په توګه خِدمت کولو. د قورح د ډلې د قوری
زوئ مسلمیاه چې د آسف د خاندان وو، ۲ د هغۀ اووۀ
زامن وُو چې د عُمر په ترتیب داسې دی، زکریاه، یدیعیل،
زبدیاه، یتنیایل، ۳ عیلام، یهوحنان او الیهوعینی. ۴ د
عوبید ادوم هم اتۀ زامن وُو، چې د عُمر په ترتیب داسې دی،
سمعیاه، یهوزبد، یوآخ، ساکار، نتنیایل، ۵ عمیایل،
یساکار او فعُلتی. ۶-۷ د عوبید ادوم د مشر زوئ سمعیاه
شپږ زامن وُو، عُتنی، رفاایل، عوبید، الزباد، الیهُو او
سماکیاه. د خپل قابلیت په وجه هغوئ ته په خپله ډله کښې
زیات عزت مِلاو شو. ۸ د عوبید ادوم خاندان ټول دوه
شپېتۀ ډېر زیات قابل سړی د دې کار دپاره ورکړل. ۹ د
مسلمیاه خاندان اتلس تکړه سړی ورکړل. ۱۰ د مراری د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قبيلې حوسه خلور زامن وُو، سِمرى، خپل پلار دې د خپلو
زامنو مشر جوړ کړو، اګر چې هغه د ټولو مشر نۀ وو، ١١
خِلقياه، طبلياه او زکرياه. د حوسه د خاندان ټول ديارلس
کسان د مالِک خُدائ د کور څوکيداران وُو. ١٢ د مالِک
خُدائ د کور څوکيداران د هغوئ د کورَنو په مطابق په ډلو
کښې تقسيم شوى وُو او هغوئ ته په هغه کور کښې د نورو
ليويانو په شان ذمه وارى حواله شوې وې. ١٣ د هر خاندان
وړوکوالى او غټوالى ته کتلو نه بغير به پچه اچولے شوه چې
د کومې يوې دروازې څوکيدارى ورته حواله کړے شى. ١٤
د شلمياه د پچې په ذريعه د نمرخاتۀ طرف ته دروازه ووتله او
د هغۀ د زوئ زکرياه شمالى طرف ته دروازه ووتله، دا هغه
سړے وو چې همېشه يې د حِکمت مشورې ورکولې. ١٥
عوبيد ادوم ته د جنوب طرف ته دروازه حواله شوې وه او د
هغۀ زامنو ته د ګودام د کوټو څوکيدارى حواله شوې وه.
١٦ سفيم او حوسه ته د نمرپرېواتۀ طرف ته دروازه او په
پاسنۍ لار باندې د سلکت دروازه حواله شوې وه. د
څوکيدارۍ ذمه وارۍ په يو بل پسې په مقررو وختونو کښې
تقسيم کړے شوې وې. ١٧ نمرخاتۀ طرف ته هره ورځ
شپږو څوکيدارانو کار کولو، په شمالى طرف باندې خلورو
او په جنوبى طرف باندې خلورو څوکيدارانو کار کولو. خلور
څوکيداران به هره ورځ د ګودام په کوټو باندې مقررولے
شول، چې په هره يوه کوټه باندې دوه دوه وُو. ١٨ د
نمرپرېواتۀ طرف ته دربار سره په لاره خلور څوکيداران وُو
او په خپله په دربار باندې دوه څوکيداران وُو. ١٩ دا د
قورح او د مرارى ډلو د څوکيدارۍ ذمه وارۍ دى.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د مالِک خُدائ د کور نورې ذمه وارئ

۲۰ نور ليويان د مالِک خُدائ د کور د ګودامونو ذمه وار ؤو
او په هغه ګودامونو کښې خُدائ پاک ته وقف شوى څيزونه
پراتهٔ ؤو. ۲۱ د جيرسون په ډله کښې د لِبنى د خاندان نه
يحىايل مشر وو. ۲۲ د لعدان دوه نور زامن زيتام او يوايل د
مالِک خُدائ د کور د خزانو مشران ؤو. ۲۳ د عُمرام،
اِضهار، حبرون او عُزىايل اولاد ته هم ذمه وارئ حواله
شوې وې. ۲۴ د موسىٰ زوئ جيرسوم د قبيلې سبوايل د
مالِک خُدائ د کور د خزانې مشر آفسر وو. ۲۵ د اِلىعزر د
طرف نه د جيرسوم خپلوان رحبياه، يشعياه، يورام، زِکرى او
سلوميت ؤو. ۲۶ سلوميت او د هغهٔ خپلوان د هغه خزانو
مشران ؤو په کومو کښې چې هغه تُحفې پرَتى وې چې هغه
داؤد بادشاه، د کورَنو مشرانو او وړو او غټو فوجى آفسرانو
مالِک خُدائ ته وقف کړې وې. ۲۷ هغوئ څهٔ هغه مالِ
غنيمت واخستلو کوم چې هغوئ په جنګ کښې قبضه کړے
وو او دا يې وقف کړو چې د مالِک خُدائ په کور کښې
استعمال شى. ۲۸ سلوميت او د هغهٔ خاندان د هغه هر څيز
مشران ؤو چې کوم د مالِک خُدائ په کور کښې د
استعمالېدلو دپاره وقف ؤو، سره د هغه تُحفو چې سموئيل
پېغمبر، ساؤل بادشاه، د نير زوئ ابنير، او د ضرومياه زوئ
يوآب راوړې وې.

## د نورو ليويانو ذمه وارئ

۲۹ د اِضهار په ډله کښې کنعنياه او د هغهٔ زامنو ته د مالِک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خُدائ د کور نه علاوه ذمه وارۍ حواله شوې وې: هغوئ به
حِساب کِتاب ساتلو او د بنی اِسرائيلو لانجې به يې هوارولې.
۳۰ د حبرون د قبيلې نه حسبياه او د هغهٔ اوولس سوه
خپلوان، چې تکړه سړی وُو هغوئ د اُردن سيند نمرپرېواتهٔ
طرف ته په اِسرائيل کښې د مالِک خُدائ د خِدمت او د
بادشاه د کار مشران مقرر شوی وُو. ۳۱ يرياه د حبرون د
اولاد مشر وو. د داؤد بادشاه د بادشاهۍ په څلوېښتم کال د
حبرون د اولاد نسب‌نامه معلومه کړے شوې وه او د دې
خاندان تکړه فوجيان موندلے شوی وُو چې د جِلعاد په علاقه
يعزير کښې اوسېدل. ۳۲ د يرياه په خپلوانو کښې دوه زره
او اووهٔ سوه تکړه سړی وُو. داؤد بادشاه هغوئ د اُردن سيند
نمرخاتهٔ طرف ته ولېږل او هغوئ يې د روبين، جاد او منسى
د نيمې قبيلې مشران مقرر کړل. هغوئ د هغه ټولو کارونو
ذمه وار وُو چې د هغې تعلق د خُدائ پاک او د بادشاه د
خِدمت سره وو.

## فوجی مشران او فوجی ډلې

۲۷ ۱ دا د بنی اِسرائيلو د وړو او غټو آفسرانو، او د
نورو فوجی آفسرانو تفصيل دے چا چې د بادشاهۍ د فوجی
ډلو مشری کوله. د هرې قبيلې څلېريشت زره فوجيانو د کال
په يوه مياشت کښې فوجی خِدمت کولو. ۲-۱۵ دا د هرې
مياشتې دپاره فوجی آفسران وُو: اوله مياشت، د زبدی‌ايل
زوئ يسوبعام چې هغه د فارص د قبيلې يو کس وو، چې دا د
يهوداه قبيلې يوه حِصه ده. دويمه مياشت، د اخوحی اولاد
دودی. مِقلوت په هغهٔ پسې دويم مشر وو. دريمه مياشت، د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يهويدع اِمام زوئ بناياه، دا د هغه قبيلې مشر وو چې ”دېرش
ګون“ بللے شوه. د هغۀ زوئ عميزباد د هغۀ نه پس د دې
قبيلې مشر جوړ شو. څلورمه مياشت، د يوآب ورور
عساهيل. د هغۀ نه پس د هغۀ زوئ زبدياه مشر جوړ شو.
پينځمه مياشت، د اِضهار د قبيلې نه سمهُوت. شپږمه
مياشت، د تقوع د عقيس زوئ عيرا. اوومه مياشت، د فلون د
علاقې نه د اِفرائيم د قبيلې نه خلص. اتمه مياشت، د حوسه
سِبکی. هغه د زارح د قبيلې وو، چې د يهوداه د قبيلې يوه
برخه وه. نهمه مياشت، د بنيامين قبيلې په علاقه کښې د
عنتوت نه ابيعزر. لسمه مياشت، د نطوفاتی مهری. هغه د
زارح د قبيلې کس وو. يوولسمه مياشت، د اِفرائيم په علاقه
کښې د فِرعاتون نه بناياه. دولسمه مياشت، د نطوفاتی
خلدی. هغه د عتنیاېل اولاد وو.

## د بنی اِسرائيلو په قبيلو باندې آفسران

(١۶)-(٢٢) دا د بنی اِسرائيلو د قبيلو د مشرانو تفصيل دے: د
روبين د زِکری زوئ اِلیعزر، د شمعون د معکه زوئ
سفطياه، د ليوی د قموايل زوئ حسبياه، د هارون صدوق، د
يهوداه اليهُو، چې د داؤد بادشاه يو ورور وو، د يساکار د
ميکائيل زوئ عُمری، د زبولون د عبدياه زوئ اِسماعيه، د
نفتالی د عزرائيل زوئ يريموت، د اِفرائيم د عززياه زوئ
هوسيع، د نمړېرېواتۀ منسی د فداياه زوئ يوايل، د نمرخاتۀ
منسی د زکرياه زوئ عدو، د بنيامين د ابنير زوئ يعسیاېل، د
دان د قبيلې د يروحام زوئ عزراېل. (٢٣) د کومو خلقو عُمر
چې د شلو کالو نه کم وو نو داؤد بادشاه د هغوئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مردمشماری ونهٔ کړه، ځکه چې مالِک خُدائ وعده کړې وه
چې هغه به بنی اِسرائیلیان د آسمان د ستورو په شان ډېر تېر
کړی. ۲۴ د ضرویاه زوئ یوآب مردمشماری شروع کړه،
خو مکمله يې نهٔ کړه. خُدائ پاک د مردمشمارۍ په وجه بنی
اِسرائیلو له سزا ورکړه، نو ځکه د داؤد بادشاه په سرکاری
حِساب کِتاب کښې د هغې آخری تعداد ونهٔ ليکلے شو.

## د شاهی جائيداد اِنتظام

۲۵-۳۱ دا د هغه کسانو تفصيل دے چا چې د شاهی
جائيداد اِنتظام کولو: د عدیایل زوئ عزماوت د شاهی
گودامونو مشر وو. د عُزياه زوئ یونتن د هغه وړو گودامونو
مشر وو کوم چې په کلو، وړو ښارونو او قلعو کښې وُو. د
کلوب زوئ عزری د پټو د زميندارانو مشر وو. د راما سِمعی د
انگورو د باغونو مشر وو. د شفمی زبدی د ميو د جوړولو
مشر وو. د جدر نه بعل حنان د نمرپرېواتهٔ د غرونو په لمن
کښې د زيتُونو او د چِنار د ونو مشر وو. یوآس د زيتُونو تېلو
ذخيره کولو مشر وو. د شارون سِطری د شارون په مېدان
کښې د څاروو ذمه وار وو. د عدلی زوئ سافط په وادۍ
کښې د څاروو ذمه وار وو. یو اِسمٰعيلی اوبِل د اوښانو ذمه
وار وو. د مرونوت يهدياه د خرونو ذمه وار وو. یو هاجری
يازيز د گډو او چېلو ذمه وار وو.

## د حضرت داؤد مشيران

۳۲ د داؤد بادشاه ترهٔ یونتن یو تکړه مشير او عالِم وو. هغه
او د حکمونی زوئ يحی‌ایل د بادشاه د زامنو د تعليم ذمه وار

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وُو. ۳۳ اخی‌تُفل د بادشاه مشیر وو او حوسی ارکیای د
بادشاه ملګرے وو. ۳۴ د اخی‌تُفل د مرګ نه پس، ابیاتار او
د بنایاه زوئ یهویدع مشیران جوړ شول. یوآب د شاهی فوج
مشر وو.

## د مالِک خُدائ د کور جوړولو دپاره د حضرت داؤد هدایات

۲۸ ۱ داؤد بادشاه د بنی اِسرائیلو ټولو آفسرانو له حُکم
ورکړو چې په یروشلم کښې راغونډ شئ. نو د قبیلو ټول
آفسران، هغه آفسران چا چې د بادشاهئ اِنتظام کولو، د
فوجی ډلو مشران، د بادشاه او د هغهٔ د زامنو د جائیداد او د
څاروو ذمه وار کسان، د محل ټول آفسران، تکړه فوجیان او
نور بهادر سړی په یروشلم کښې راغونډ شول. ۲ داؤد د
هغوئ په وړاندې ودرېدلو او تقریر یې ورته وکړو، ”زما خلقو
او زما ورونړو، ما ته غوږ ونیسئ. ما دا اراده کړې وه چې د
مالِک خُدائ د لوظ صندوق دپاره د آرام ځائ یعنې د مالِک
خُدائ زمونږ د خُدائ پاک د پښو چوکئ جوړه کړم. ما د
هغهٔ دپاره د یو کور د جوړولو تیارے کړے دے. ۳ خو
خُدائ پاک ما ته وفرمائیل چې تهٔ به زما د نوم دپاره یو کور
نهٔ جوړوې، ځکه چې تهٔ یو جنګیالے یې او وینه دې توئ
کړې ده. ۴ مالِک خُدائ د بنی اِسرائیلو خُدائ پاک زما د
پلار د مکمل خاندان نه زهٔ خوښ کړے یم چې د تل دپاره په
بنی اِسرائیلو حکومت وکړم. هغهٔ د مشرئ کولو دپاره د
یهوداه قبیله خوښه کړه او د یهوداه نه یې زما د پلار خاندان

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خوښ کړو. دا د هغهٔ خوښه وه چې د خپلو وروڼو نه يې زهٔ
خوښ کړم او په ټولو بنی اِسرائيلو يې بادشاه جوړ کړم. ۵
هغهٔ ما له ډېر زامن راکړل او د هغه ټولو نه يې سليمان خوښ
کړو چې د مالِک خُدائ په بادشاهئ يعنې په ټولو بنی اِسرائيلو
باندې حکومت وکړی. ۶ مالِک خُدائ ما ته وفرمائيل چې
ستا زوئ سليمان هغه څوک دے چې هغه به زما کور جوړ
کړی. هغه ما د دې دپاره خوښ کړے دے چې زما زوئ وی
او زهٔ به د هغهٔ پلار يم. ۷ کهٔ هغه زما ټول قانون او
حُکمونه هم هغه شان منی لکه څنګه يې چې نن منی نو زهٔ به
د هغهٔ بادشاهی د همېشه دپاره قائمه وساتم. ۸ نو اوس
زما خلقو، زمونږ د خُدائ پاک او د مالِک خُدائ د خلقو بنی
اِسرائيلو د غونډې په مخکښې زهٔ تاسو ته وايم چې هغه هر
څهٔ هم هغه شان پوره پوره منئ چې مالِک خُدائ زمونږ
خُدائ پاک د هغې حُکم راکړے دے، نو چې دا ښهٔ مُلک
ستاسو ميراث وی او چې د همېشه دپاره يې خپلو راتلونکو
نسلونو ته منتقل کړئ.“ ۹ او هغهٔ سليمان ته وفرمائيل،
”زما زويه، زهٔ تا ته وايم چې د پلار خُدائ پاک وپېژنه او د
زړهٔ د اخلاصه او د خپلې مرضئ سره د هغهٔ خِدمت کوه.
هغه زمونږ ټول فکرونه او خواهشونه معلوموی. کهٔ تهٔ د هغهٔ
طلب کوې نو پيدا به يې کړې، خو کهٔ تهٔ د هغهٔ نه اوړې، نو
هغه به تا د تل دپاره پرېږدی. ۱۰ تهٔ په دې پوهه شه چې
مالِک خُدائ تهٔ د هغهٔ د مقدس کور جوړولو دپاره خوښ
کړے يې. نو تکړه شه او دا کار وکړه.“ ۱۱ داؤد سليمان ته
د مالِک خُدائ د کور د ټولو عمارتُونو، د برنډو، د ګودام د
کوټو او نورو ټولو کوټو او د زيات مقدس ځائ نقشه
وښودله، چرته چې د ګناه دپاره کفاره ادا کيږی. ۱۲ د هغهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په ذهن کښې چې د دربارونو او د دې نه ګېرچاپېره کوټو او
د مالِک خُدائ د کور د سامان دپاره د ګودامونو او مالِک
خُدائ ته د وقف شوو تُحفو کومه نقشه وه نو هغه يې هم ورته
وښودله. ۱۳ داؤد هغۀ ته د اِمامانو او ليويانو د ذمه وارو ادا
کولو اِنتظام، د مالِک خُدائ د کور د کار کولو او د کور د
ټولو لوښو خيال ساتلو طريقه هم وښودله. ۱۴ هغۀ ورته دا
طريقه هم وښودله چې د لوښو د جوړولو دپاره به څومره
سپين زر او سرۀ زر استعماليږى، ۱۵ يعنې هرې يوې ډيوې
او ډيوټ د جوړولو دپاره، ۱۶ د سپينو زرو د مېزونو د
جوړولو او د سرو زرو د هر يو مېز دپاره چې په دې باندې
خُدائ پاک ته پېش کړے شوې روټئ پراته وه. ۱۷ هغۀ ورته
دا هم ووئيل چې د درې غاښو، جامونو او منګو په جوړولو
کښې څومره سوچه سرۀ زر او د لوښو په جوړولو کښې به
څومره سپين زر او سرۀ زر استعماليږى، ۱۸ او د هغه
قربانګاه د جوړولو دپاره څومره سوچه سرۀ زر چې په هغې
باندې خوشبوئى سوزولے شوه او د وزرو والا هغه مخلوق د
جوړولو دپاره چې د هغې وزر د مالِک خُدائ د لوظ صندوق
دپاسه خوارۀ وُو. ۱۹ داؤد بادشاه وفرمائيل، "دا ټول تفصيل
په هغه نقشه کښې ليکلے شوے دے چې مالِک خُدائ په
خپله ما له راکړې وه." ۲۰ داؤد بادشاه خپل زوئ سليمان
ته وفرمائيل، "تکړه شه او اراده مضبوطه کړه. کار شروع
کړه او چې ونۀ يرېږې او نه بې‌حوصلې شې. مالِک خُدائ
زما خُدائ پاک به ستا مل وى. هغه به تا نۀ پرېږدى، خو هغه
به تر هغې پورې تا سره وى چې د هغۀ يعنې د مالِک خُدائ د
کور کار ختم شوے نۀ وى. ۲۱ اِمامانو او ليويانو ته ذمه
وارئ حواله شوې دى چې د مالِک خُدائ په هغه کور کښې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يې وکړی. د هر قِسم مهارت کاريګران د زړۀ نه غواړی چې
ستا مدد وکړی او ټول خلق او د هغوئ مشران ستا د حُکم
لاندې دی.“

## د مالِک خُدائ د کور د جوړولو دپاره نذرانې

۲۹ ۱ داؤد بادشاه ټولې غونډې ته وفرمائيل، ”زما زوئ
سليمان هغه څوک دے چې خُدائ پاک خوښ کړے دے،
خو هغه لا هلک او ناتجربه‌کاره دے. کوم کار چې کېدونکے
دے هغه ډير لوئ دے، ځکه چې دا د انسانانو محل نۀ دے
بلکې د مالِک خُدائ، خُدائ پاک کور دے. ۲ ما د خپل
خُدائ پاک د کور د سرو زرو، سپينو زرو، پيتلو، اوسپنې،
لرګی، د اونيکس کاڼو او جواهراتو، د ښائسته کاڼو ټوکړو او
د سنګِ مرمر د مِقدار تيارولو هر کوشش کړے دے. ۳ د
دې هر څۀ نه علاوه، چې ما د مخکښې نه تيار کړی دی د
خُدائ پاک د کور سره زما د مينې په وجه ما خپل سپين زر
او سرۀ زر هم ورکړی دی. ۴ د مالِک خُدائ د کور په
ديوالونو باندې د سرو زرو او سپينو زرو پترو خېژولو دپاره
ما د اوفير د سلو ټنو نه زيات سرۀ زر او تقريباً دوه سوه او
څلوېښت ټنه سوچه سپين زر هم ورکړی دی ۵ او د هغه
ټولو څيزونو دپاره مې دا ورکړی دی چې ماهِر کاريګران به
يې جوړوی. نو اوس داسې نور څوک شته چې مالِک خُدائ
له نذرانې ورکړی؟“ ۶-۷ بيا د ډلو مشرانو، د قبيلو
آفسرانو، د فوج مشرانو، د شاهی جائيداد اِنتظام کوونکو د
مالِک خُدائ د کور د کار دپاره دا څيزونه ورکړل: د يو سل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او اویا ټنو نه زیات سرۀ زر، د دریو سوو او دېرشو ټنو نه
زیات سپین زر او تقریباً شپږ سوه او شل ټنه زیړ او د دریو
زرو او څلورو سوو ټنو نه زیاته اوسپنه. ۸ د چا سره چې
قیمتی کاڼی وُو نو هغه یې د مالِک خُدائ د کور د خزانې
دپاره ورکړل، چې د هغې اِنتظام د جیرسون قبیلې د لیوی
قبیلې یحی‌ایل کولو. ۹ خلقو د زړۀ د اخلاصه څیزونه
ورکول او هغوئ په دې خوشحاله وُو چې څومره زیات یې
ورکړی دی. داؤد بادشاه هم ډېر زیات خوشحاله وو.

## د حضرت داؤد د خُدائ پاک ثناء صِفت کول

۱۰ هلته د ټولې غونډې په مخکښې داؤد د مالِک خُدائ ثناء
صِفت وکړو. هغۀ وفرمائیل، ”زمونږ د پلار نیکۀ یعقوب
مالِک خُدائ، خُدائ پاکه، ستا ثناء صِفت دې د همېشه دپاره
وی. ۱۱ تۀ لوئ او طاقتور، د شان او شوکت والا او عزتمند
یې. په زمکه او آسمان کښې هر څۀ ستا دی او اے مالِک
خُدایه، تۀ په هر څۀ باندې عظیم بادشاه او حکمران یې. ۱۲
عزت او دولت ستا نه راځی، تۀ په خپل طاقت او قوت سره
په هر څۀ حکومت کوې، او تۀ کولے شې چې هر څوک لوئ
او طاقتور کړې. ۱۳ اوس زمونږ خُدایه پاکه، مونږ ستا شُکر
کوُو او مونږ ستا د جلال نه د ډک نوم ثناء صِفت کوُو. ۱۴
خو بیا هم په حقیقت کښې زۀ او زما خلق تا له هیڅ هم نۀ
شُو درکولے، ځکه چې هر یو څیز ستا د طرف نه نعمت دے
او مونږ صِرف تا له هغه څۀ واپس درکړی دی چې څۀ ستا
وُو. ۱۵ مالِکه خُدایه، تا ته پته ده چې زمونږ د پلار نیکۀ په
شان مونږ خپل ژوند د مسافرو په شان په یو ځائ بل ځائ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې تېر کړے دے، زمونږ ژوند د تېرېدونکی سورې په شان
فانی دے. ۱۶ مالِکه خُدایه، زمونږ خُدایه پاکه، مونږ دا ټول
دولت ستا د کور د جوړولو دپاره راوړے دے چې ستا د نوم
درناوے وشی، خو دا ټول دولت ستا نه راغلے وو او دا ټول
ستا دے. ۱۷ ما ته پته ده چې تهٔ د هر چا زړهٔ معلوموې او
د خلقو په صداقت خوشحالېږې. په روغ نيت او خلوص
سره ما دا هر څهٔ تا له درکړی دی او ما ته پته لګېدلې ده چې
کوم خلق دلته راغونډ شوی دی هغوئ تا له څومره په شوق
او خوشحالئ سره نذرانې راوړی. ۱۸ مالِکه خُدایه، زمونږ د
پلار نيکهٔ اِبراهيم، اِسحاق او يعقوب خُدایه پاکه، ستا د خپلو
خلقو په زړهٔ کښې تا سره دا مينه د همېشه دپاره مضبوطه
وساته او د هغوئ زړونه وفادار وساته. ۱۹ زما د زوئ
سليمان په زړهٔ کښې دا جذبه واچوه چې ستا ټول حُکمونه
ومنی او هغه کور جوړ کړی چې د کومې دپاره ما دا تيارے
کړے دے.“ ۲۰ بيا داؤد ټولې قبيلې له حُکم ورکړو، ”د
مالِک خُدائ ستاسو د خُدائ پاک ثناء صِفت وکړئ.“ نو
ټولې غونډې د مالِک خُدائ، د خپل پلار نيکهٔ د خُدائ پاک
ثناء صِفت وکړو او هغوئ لاندې ټيټ شول او مالِک خُدائ
او بادشاه له يې عزت ورکړو. ۲۱ په ورپسې ورځ هغوئ د
قربانئ په توګه څناور حلال کړل، مالِک خُدائ ته يې وقف
کړل او بيا يې خلقو له ورکړل چې وې خوری. د دې نه
علاوه، هغوئ يو زر غوَيی، يو زر ګډان او يو زر ګډُوری هم
حلال کړل، چې په قربانګاه باندې يې پوره وسوزول. هغوئ
د ميو نذرانې هم راوړې. ۲۲ چې هغوئ د مالِک خُدائ په
حضور کښې خوراک څښاک وکړو نو په هغه ورځ هغوئ
ډېر خوشحاله وُو. هغوئ په دوېم ځل سليمان بادشاه جوړ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړو. هغوئ د مالِک خُدائ په نوم سليمان د بادشاه په توګه
او صدوق د اِمام په توګه مقرر کړو. ۲۳ نو سليمان د خپل
پلار داؤد نه پس په هغه تخت باندې کښېناستو کوم چې
مالِک خُدائ قائم کړے وو. هغه يو کامياب بادشاه وو او د
بنی اِسرائيلو ټول قوم هغه منلو. ۲۴ ټولو آفسرانو، فوجيانو
او تر دې پورې چې د داؤد نورو زامنو هم دا لوظ وکړو چې د
سليمان بادشاه وفادار به وی. ۲۵ مالِک خُدائ سليمان د
ټول قوم په نظر کښې عزتمند کړو او د هغه نورو ټولو
بادشاهانو نه يې زيات شان او شوکت ورکړو چې کوم به په
بنی اِسرائيلو بادشاهی کړې وه.

## د حضرت داؤد وفات کېدل

۲۶ نو د يَسی زوئ داؤد په ټولو بنی اِسرائيلو باندې بادشاهی
کوله. ۲۷ هغهٔ څلوېښتو کالو پورې بادشاهی کوله. هغهٔ په
حبرون کښې اووهٔ کاله او په يروشلم کښې درې دېرش کاله
بادشاهی وکړه. ۲۸ هغه يو عزتمند او مالدار سړے وو او
ښهٔ په پوخ عُمر کښې مړ شو او د هغهٔ زوئ سليمان د هغهٔ نه
پس بادشاه جوړ شو. ۲۹ د داؤد بادشاه تاريخ د اول نه
واخله تر آخره پورې د دې درېو پېغمبرانو په کتابونو کښې
ليکلے شوے دے، سموئيل، ناتن او جاد. ۳۰ د تاريخ دا
کتابونه وائی چې هغهٔ څنګه حکومت وکړو او هغه څومره
طاقتور وو او هغه هر څهٔ چې په هغهٔ، بنی اِسرائيلو او
ګېرچاپېره بادشاهتونو شوی وُو.


Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.